Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized
Public Disclosure Authorized

# د افغانستان اقتصادي راپور



د ۱۳۹۶ کال غبرگولئ

THE WORLD BANK
IBRD • IDA | WORLD BANK GROUP

## د مسؤلیت سلب:

دغه خپرندویه ټولګه د نړیوال بانک اړوند د بیارغوني او پراختیايي نړیوال بانک د کارکوونکو د هڅو ګډ محصول دی. اړینه ندي چې په دغه ګڼي کې ترسره شوي څېړني، موندني، تحلیلونه، تفسیرونه او اړوند پایلې د نړیوال بانک د اجرایوی مشرتابه او د اړوندو دولتونو د نظرونو ښکارندويي وکړي. نړیوال بانک په دغه راپور کې د خپاره شويو معلوماتو له کره والي څخه ضمانت نکوي. په دغه راپور کښې مرزونه/ پولې، رنګونه، سرلیکونه او نور معلومات په هرې نقشه کې دا مانا نلري چې ګواکې نړیوال بانک د هرې سیمې حقوقي موضوع ګاڼي او یا دغه څېر مرزونه تایید او یا مني.

## د چاپ او خپراوي حق:

د دغه راپور د چاپ او خپریدني حق خوندي دی. د دغې ګڼې د مطالبو کاپي یا د هغې د یوې برخې کاپي کول پرته د خپرندویه مرجع له اجازه څخه د اړوند قانون د نقض لامل ګرځي. د نړیوال بانک اړوند د بیارغوني او پراختیايي نړیوال بانک پلاوی د دغه راپور د مطالبو له خپراوي څخه هرکلی کوي او په سملاسي توګه د خپل د کار د ځینو برخو د تکثیر په هکله خپرونکو ټولنو او ادارو ته اجازه ورکوي.

د همدي راپور د هري برخي د کاپي یا بیاځلي چاپ د اجازي اخیستلو لپاره، مهرباني وکړئ خپله غوښتنه له بشپړ معلوماتو سره د کاپي رایت د اجازي مرکز ته په لاندي پته را ولیږئ: ۲۲۲ Rosewood Drive, Danvers, MA ۰۱۹۲۳, USA، تلیفون ۸۴۰۰-۷۵۰-۹۷۸، فکس ۴۴۷۰-۹۷۸-۷۵۰، http://www.copyright.com/.

د حقونو او اجازي په اړه نور ټول غوښتنلیکونه، د تابع حقونو په ګډون، باید د خپرونکي دفتر یعني نړیوال بانک په پته ور ولیږل شي: ۱۸۱۸ H Street NW, Washington, DC ۲۰۴۳۳, USA، فکس ۲۴۲۲-۵۲۲-۲۰۲، بریښنالیک pubrights@worldbank.org.

د ټوک پر مخ انځور: © نړیوال بانک، ۲۰۱۷

# د افغانستان اقتصادي راپور

## د ۱۳۹۶ کال غبرګولئ

## سریزه

د افغانستان اقتصادي راپور چې په کال کې دوه ځلې خپرېږي د افغانستان د اقتصادي وضعیت په اړه یو بشپړ راپور وړاندې کوي. دغه راپور وروستي بدلونونه او د افغانستان منځ مهاله اقتصادي لیدلوری تر پوښښ لاندې راولي. په هره ګڼه کې، د راپور یوه برخه د یوه یا څو ځانګړو موضوعګانو په اړه ژورې څېړنې ته ځانګړې شوې وي. په افغانستان کې کره معلومات او شمېرو ته نه لاسرسۍ، د اقتصادي فعالیتونو په اړه د میاشتنۍ او ربعوار راپور جوړول له ستونزو سره مخامخ کړې دي. له همدې کبله، له تقریبي شاخصونو څخه – په هغه صورت کې چې د هغوی کیفیت د قناعت وړ واوسي – ګټه اخیستل کیږي. تر ډېره بریده پورې هڅه شوې ده تر څو اصلي تحلیلونه او وړاند وینې یوازې د ډاډ وړ ارقامو او معلوماتو له مخې تر سره شي.

د افغانستان اقتصادي راپور د پراخو مخاطبینو لپاره په پام کې نیول شوی دی لکه د تصمیم نیوونې د چارو په راس کې چارواکو لپاره، تمویلوونکو هیوادونو او نړیوالو موسسو ته، خصوصي سکټور، د افغانستان په اقتصاد کې ښکیل څېړونکو او کارپوهانو ته او له لویه سره د افغانستان اوسیدونکو لپاره چمتو شوی دی.

دغه راپور د محمد عمر جویا، محمد امان فراهي، کریسټینا ویزر او کلوډیا نصیف له خوا جوړ شوی دی. د دې راپور لیکونکې د هیواد د ټیم د غړو له خوا د راپور په منځپانګه کې د وړاندې شویو ګټورو نظرونو لپاره مننه څرګندوي. ډیپک مشرا، ډېر ارزښتناکه نظرونه وړاندې کړل، چې لیکوالان له هغه څخه د زړه له تلې مننه کوي. احسان الله ناصري د دې سند په طراحي کې مرسته کړې ده. دغه راپور د مانویلا فرانسیسکو (د سویلي اسیا لپاره د لوی اقتصاد او مالي مدیریت د برخې مشر) او شوبهام چهودري (د نړیوال بانک د افغانستان د دفتر مشر) تر عمومي لارښوونې لاندې چمتو شوی دی.

همداشان لیکوالان د افغان دولت د کارکوونکو له همکاریو څخه چې، بیلابیل ارقام او معلومات یې په اختیار کې ورکړي وو، مننه کوي. دې ته ورته د دې راپور لیکوالان د پیسو د نړیوال وجهي صندوق د کارکوونکو له خوا د تر لاسه شویو وړاندیزونو او نظرونو په اړه مننه او کورودانې وایې.

## د مطالبو لړلیک


**سریزه** ............................................................................................................................. ٤

**د مطالبو لړلیک** ................................................................................................................. ٥

اجرائیوي لنډیز ................................................................................................................ I

الف: وروستي اقتصادي پرمختګونه ...................................................................................... ٣

١. شالید ................................................................................................................ ٣
٢. د خصوصي سکتور فعالیتونه ........................................................................................ ٤
٣. بهرنی سکتور ......................................................................................................... ٨
٤. مالي بدلونونه ......................................................................................................... ١١
٥. د پولي او بانکي سکتور بدلونونه .................................................................................. ١٣

ب. منځ مهاله لیدلوری .................................................................................................. ١٥

ج. لومړۍ ځانګړي برخه: څرنګه کولای شو اقتصادي خوځښت په داسي شرایطو کي چي مالي سرچيني محدودي وي رامنځته کړو؟ ............................................................................................................ ١٨

د. دویمه ځانګړي برخه: په ١٣٩٥ کال کي د بیرته راستنیدونکو او بي ځایه شویو د خوځښت ډول: د بیلابیلو شمیریزو سرچینو له مخي تحلیل ........................................................................................................ ٢٦

ضمیمه : په افغانستان کي د نړیوال بانک د ګروپ پروګرام ....................................................... ٣١

### د شکلونو لړلیک

١ شکل: ملکي زيانونو زياتوالی موندلی دی ............ ٣
٢ شکل: اقتصادي وده (١٣٨٢-١٣٩٥) ............ ٤
٣ شکل: اقتصادي وده (١٣٨٢-١٣٩٥) ............ ٥
۴ شکل: د نويو تشبثاتو ثبت مخ پر کمښت دی ............ ٥
۵ شکل: په ١٣٩٥ کال کې د کوکنارو او ترياکو د کښت سيمي مخ په زياتيدو دي ............ ٦
۶ شکل: په کليوالي سيمو کې د بيوزلی د کچي زياتوالی ............ ٦
٧ شکل: د مصرفي توکو بيي سره له دې چې په نړيوالو بيو کې ښه والی راغلی بيا يې هم زياتوالی موندلی دی ............ ٧
٨ شکل: په ٢٠١۶ کال کې صادراتو زياتوالی موندلی دی ............ ٨
٩ شکل: د سوداګريزو شريکانو له اړخه د سوداګريز جوړښت تمرکز؛ د هرفنډال (**Herfindahl**) شاخص ............ ٩
١٠ شکل: له ١٣٨٧ څخه تر ١٣٩۴ پوري د افغانستان لس غوره سوداګريز شريکان ............ ٩
١١ شکل: د افغانۍ د مبادلې بيه او د ارزي زيرمو ارزښت ............ ١١
١٢ شکل: په تيرو دوو پر له پسې کلونو کې د عوايدو راټولول زياتوالی موندلی دی ............ ١٢
١٣ شکل: په ١٣٩۵ مالي کال کې د بوديجي بيلانس متوازن و ............ ١٣
١۴ شکل: د پولي او بانکي امانتونو د شاخصونو وده ............ ١٤
١۵ شکل: د بوديجې کسر به (پرته له بهرنيو مرستو څخه) تل زياتوالی ومومي ............ ١٦
١۶ شکل: د «غوره ودې» د سناريو په اړه وړاندوينې: کورني عوايد، لګښتونه او د بوديجې کسر ............ ١٨
١٧ شکل: د عامه لګښتونو جوړښت، د **COFOG** د عملياتي ډلبنديو له مخې ............ ١٩
١٨ شکل: په ځينو هيوادونو کې د مالي ډيريدونکي ضريب اندازه ............ ٢٠
١٩ شکل: په افغانستان کې د لګښتونو د عملياتي ډلبنديو لپاره زياتيدونکي مالي ضريبونه ............ ٢١

### د جدولونو او ضميمو لړليک

١ جدول: په ١٣٩۴ او ١٣٩۵ مالي کلونو کې پرتليزه لګښتونه ............ ١٣
٢ جدول: د لوی اقتصاد منځ مهاله چوکاټ، ١٣٩٣- ١٣٩٩ ............ ١٦
د ١ ضميمي جدول: اقتصادي منتخب شاخصونه ............ ٣٣
د ٢ ضميمي جدول: مالي منتخب شاخصونه ............ ٣٤
د ٣ ضميمي جدول: مالي منتخب شاخصونه ............ ٣٥
د ۴ ضميمي جدول: مالي منتخب شاخصونه ............ ٣٦

### د کادرونو لړليک

١ کادر: د افغانستان په سوداګريز جوړښت کې د سوداګريزو شريکانو له اړخه زياته تنوع، په وروستيو کلونو کې راډيره شوي ده ..... ٩

# اجرائيوي لنډيز

په ۱۳۹۵ کال کې د ناکراريو او زورزياتيو دوام په پر له پسې توګه د معیشت او اقتصادي فعالیتونو خونديتوب اغيزمن کړ. د کورنيو تاوتریخوالیو په زياتيدو او د سياسي وضعيت په پيچل کيدو سره، د ملکي زيانونو کچه په بې ساري توګه زياتوالی ومومند. پانګې اچوونې او سوداګرۍ ته زړه ښه کول همداشان په ډيره ټيټه کچه کې ده، چې په تيرو څلورو کلونو کې د نويو ثبت کیدونکو شرکتونو کمښت د همدې امر ښکارندوی ده. اقتصادي وده چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۱ سلنه وه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲،۲ سلنې ته لوړه شوې، چې البته دا وده هم د کرهنيز سکتور د ودې له کبله رامنځته شوې ده. دا په داسې حال کې ده چې، ټول غيرکرهنيز سکتورونه په دغه کال کې د ودې له ډيرې ټيټې کچې څخه برخمن وو. په داسې يوه هيواد کې چې نفوس يې هر کال ۳ سلنه زياتوالی ولري، نو ۲،۲ سلنه اقتصادي وده به د هغوی د سړي سر عايد د کمښت لامل وګرځي.

د پولي پړسوب کچه چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۵- سلنه وه په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴،۴ سلنې ته لوړ شو، چې د دې کار يو ښکاره عامل د افغانيو د ارزښت کمیدل او همداشان په نړيواله کچه د خوراکي توکو د بيو ښه والی دی. دا چې افغانستان د خپلو زياتره مصرفي توکو را واردوونکی هیواد دی، نو له همدې کبله د نړيوالو بيو بدلون او د مبادلې بيه د دې لامل ګرځي تر څو په افغانستان کې د توکو بيې په پراخه کچه اغيزمنې شي.

په ۱۳۹۳ کال کې د عوايدو د کچې په راټيټيدو سره، افغانستان وکولای شول چې په تيرو دوو کلونو کې د عوايدو په راټولولو کې د پام وړ اصلاحات راولي. په ۱۳۹۵ مالي کال کې د کورنيو عوايدو کچې نږدې ۱۵ سلنه زياتوالی ومومند چې د بوديجې له متوقعه موخې څخه ۵ سلنه زياته وه. خو د ناخالصه کورني توليد په تناسب، کورني عوايد لا اوس هم په ټولو ټيټه کچه کې يعنې ۱۰،۵ سلنه کې ولاړ دي.

د صادراتو د زياتوالي او وارداتو د کموالي (د داخلي غوښتنو د کمښت له کبله) په پایله کې، په اټکليزه توګه سوداګريز کسر د ۱۳۹۴ کال د ناخالصه کورني توليد له منفي ۳۶،۶ سلنې څخه په ۱۳۹۵ کال کې منفي ۳۳،۳ سلنې ته ښه والی ومومند. د سوداګريز کسر زياتره برخه د بهرنيو مرستو له خوا تمويليږي، او د جاري حساب کچه د ۱۳۹۵ کال د ناخالصه کورني توليد د شاوخوا ۴ سلنه کوچني مازاد سره اټکل کيږي.

افغانستان په ۱۳۹۵ کال کې د بشري اوضاع د ننګونو د زياتوالي شاهد هم و. څه باندې ۸۰۰ زره کډوال له پاکستان او ايران څخه هيواد ته راستانه شول. په ورته وخت کې، په هیواد کې دننه د امنيتي ستونزو له کبله د بې ځايه شويو خلکو کچه هم زياته شوې ده. که چيرته له ګاونډيو هيوادونو څخه د کډوالو بيرته راستنيدل او په افغانستان کې دننه د امنيتي ستونزو له کبله د کورنيو بې ځايه کيدل همداسې دوام ومومي، نو دا به په ۱۳۹۶ کې د افغان حکومت د هڅو پر وړاندې يوه بله ستره ننګوونه وي، تر څو هر څه ژر بيړني او بنسټيز خدمتونه ځورمنونکو ډلو ته ورسوي.

اټکل کيږي چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې به اقتصادي وده په متعادله توګه ۲،۶ سلنه زياتوالی ولري. هیله کيږي چې اقتصادي وده به په تدريج سره تر ۱۳۹۹ (۲۰۲۰ ز) کال پورې ۳،۶ سلنې ته ورسيږي. خو د يادو کلونو په ترڅ کې به دا شان وده د غوره امنيت، سياسي ټيکاو، د اصلاحاتو د بریالي تطبيق او د بلاعوضو مالي مرستو په دوام پورې تړلې وي.

اټکل کيږي چې په ۱۳۹۶ (۲۰۱۷ ز) مالي کال کې به کورني عوايد د ناخالصه کورني توليد ۱۰،۸ سلنې کچې ته ورسيږي. که څه هم هيله کيږي چې دولتي لګښتونه به هم متناسباً په دغه کال کې پورته ولاړ شي، خو د بلاعوضه مرستو په ترلاسه کولو سره به کلنۍ بوديجه د پخوانيو ژمنو او پروګرامونو له مخې، متوازنه پاتې شي.

په منځ مهال کې به، بوديجوي ننګووني په ملموسه توګه پاتي شي. پرمختيايي لګښتونو او امنيتي لګښتونو ته به اړتيا زياتوالی ومومي، خو برخلاف، اوسنی مالي سرچيني به کافی نه وي. په داسي يوه حالت کې، په ستراتيژيکه توګه سره تخصيص او د همدي وخت په اوږدو کې له سرچينو څخه اغيزمنه ګټه اخيستنه يو حياتي امر ګڼل کيږي.

د افغانستان د اقتصادي راپور ځانګړي برخي په داسي يوه هيواد کي چي له مالي محدود سرچينو سره مخ دی هلته د «اقتصادي خوزښت» د رامنځته کولو څرنګوالی تر بحث لاندي نيولی دی. په داسي حال کي چي اقتصادي وده ورو او پخه ده، نو افغانستان هم د اقتصاد د خوځنده کولو لپاره – او په ورته وخت کي د مالي وضعيت د لا تضعيف د مخنيوي لپاره – له جدي ستونزي سره مخامخ دی، تر څو وکولای شي له يوي خوا اقتصادي خوزښت رامنځته کړي او له بلي خوا د مالي تلپاته والي له زيات تضعيف څخه مخنيوی وکړي. مالي چاپيريال شديداً محدود دی او په دولتي لګښتونو کي د هر ډول زياتوالي يا د مالياتو تقليل وړتيا، ناممکنه ګرځيدلي ده. له همدي خاطره، حکومت بايد داسي نوښتونه تر لاس لاندي ونيسي چي د هغو موخه پر اقتصادي ودي باندي د مالي لګښتونو د اغيز لوړول واوسي.

لومړی، هغه تګلاري بايد عملي کړل شي چي دولت د خپلو لګښتونو لپاره له کورني توليداتو څخه ګټه پورته کړي، چي دا کار به د کورنيو توليداتو د ودي او لا غوړيدا لامل وګرځي نه دا چي په وارداتو کي زياتوالی راولي. دويم، په دولت کي د «جذب د وړتيا» لوړول د دي لامل ګرځي تر څو د عامه پانګي اچووني د پيسو د ارزښت کيفيت، سرعت او تطبيق زياتوالی ومومي. دريیم، د داسي تګلارو عملي کول چي د بانکي چارو او ودانيزو چارو په سکتورونو کي د رقابتي بازارونو د پراختيا لامل وګرځي چي په دي کار سره به په دواړو سکتورونو کي زيات شمير واړه او منځني شرکتونه رامنځته شي. د داسي تګلارو پلي کول چي په ترڅ کي يي مالي چاپيريال زياتوالی ومومي کيدای شي د کورنيو سرچينو د انسجام په اړه له يو لړ اقداماتو څخه جوړ واوسي او همداشان له شته مالي سرچينو څخه په اغيزمنه توګه ګټه اخيستنه واوسي، چي له سرچينو څخه اغيزمنه ګټه اخيستنه په نهايت کي د زيات شمير سرچينو د رامنځته کيدو او فارغيدو لامل ګرځي.

# الف: وروستي اقتصادي پرمختکونه

## ۱. شالید

**سیاسي او امنیتي شرایط، د افغانستان اقتصادي او ټولنیز ډګرونه هم اغیزمنوي.**

په عمومي توګه په ۱۳۹۵ کال کې د افغانستان امنیتي وضعیت لا همغسې کړکیچن و. طالب، داعش او نورو ناقانونه وسله والو ډلو خپلو بریدونو ته په بیلابیلو ښارونو او ولسوالیو کې زیاتوالی ورکړ. د امنیتي وضعیت په خرابېدو سره، ملکي زیانونه په بې ساري توګه سره زیات شول. د ۱۳۹۵ کال په درشل کې شاوخوا ۱۱۴۰۰ ملکي وګړي زیانمن شوي دي، چې له دې ډلې ۳۵۰۰ یې خپل ژوند له لاسه ورکړی او نږدې ۸۰۰۰ یې ټپیان شوي دي. د ناکرارۍ د ګراف په زیاتوالي سره، د هیواد عمومي وضعیت سخت ټکنی شو، چې له همدې کبله د لومړنیو خدمتونو وړاندې کولو او پرمختیایي فعالیتونو ته اړتیا له ډیره پسې محسوسه کېږي.

امنیتي کړکیچن حالت، له اروپا، پاکستان او ایران څخه د افغان کډوالو بیرته راستنیدا، او له دې سره جوخت د جګړو او ناکراریو له لاسه د بېځایه شویو وګړو زیاتوالي د ټولنیز – اقتصادي ژوندانه په بیلابیلو اړخونو کې خورا زیات فشار او تراکم رامنځته کړی دی. په ۱۳۹۵ کال کې، څه باندې ۸۰۰ زره افغان کډوال له پاکستان او ایران څخه بیرته افغانستان ته راستانه شول. په ورته وخت کې ویل کیږي چې د اټکل له مخې اوس هم له ۱,۲ نه تر ۳ میلیون پورې افغان کډوال لا په پاکستان او ایران کې اوسیږي، او احتمال لري چې د سیمه ایزو اړیکو په خرابېدو سره به په ۱۳۹۶ کال کې په زرګونو نور افغان کډوال افغانستان ته بیرته راستانه شي. له بلې خوا، د امنیتي وضعیت په کړکیچن کیدو سره یوازې تیر کال شاوخوا ۶۴۰ زره افغان کورنۍ له خپلو اصلي مینو څخه بېځایه شوې دي. اوس مهال په افغانستان کې له خپلو اصلي مینو څخه د بې ځایه شویو وګړو شمیر څه باندې ۱,۴ میلیون وګړي دي. ښایي په ۱۳۹۶ کال کې د افغان کډوالو په راتګ سره دا شمیره زیاتوالی ومومي، چې په دې ترتیب سره به د دولت پر وړاندې یو له سترو ننګونو څخه دغې ځورمنونکې ډلې ته د لومړنیو خدمتونو وړاندې کول وي.

د همدې ناکراره وضعیت باوجود، د ملي یووالي حکومت د ستونزمنو امنیتي شرایطو سره سره، خپل اصلاحاتي ارماني پروګرامونه تعقیب کړل. د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په څلورمه، د افغانستان په اړه د بروکسیل کنفرانس، چې د نړۍ د ۷۰ هیوادونو او ۳۰ نړیوالو موسسو په ګډون جوړ شوی و، افغان حکومت «د افغانستان د سولې او پراختیا ملي نوی چارچوکات» وړاندې کړ. په دغه کنفرانس کې، د راتلونکو څلورو کلونو لپاره هر کال د ۳,۸ میلیارد امریکایي ډالرو بلاعوضه پرمختیایي مرستو ژمنه وشوه. سربیره پر دې، د ۲۰۱۶ کال د جولای په میاشت کې د ناټو په هغه غونډه کې چې په وارسا کې جوړه شوې وه، د راتلونکو څلورو کلونو لپاره هر کال د امنیتي لګښتونو لپاره د ۴,۵ میلیارد امریکایي ډالرو د ورکړې ژمنه وشوه.

۱شکل: ملکي تلفاتو زیاتوالی مونډلی




**سرچینه:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماموریت مرستیاله اداره او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري (UNHCR)

## ۲. د خصوصي سکتور فعالیتونه

**د اقتصادي ښه والي وده پڅه او په ټپه ولاړ ده، ځکه چي ناکرارۍ پر خصوصي پانګي اچووني او د مستهلکینو پر تقاضا باندي ناوړه اغیزي لرلي دي**

په ۱۳۹۰ کال کي د نړیوالو پوځي ځواکونو د وتلو د پړاو په پیلیدو سره او بیا په ۱۳۹۳ (۲۰۱۴ز) کال کي افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسوولیتونو د لیږد د بهیر په بشپړیدو سره، د افغانستان اقتصادي ودي په کلکه توګه راټیټه شوه. داسي چي له ۱۳۸۲ څخه تر ۱۳۹۱ کلونو پوري د کلنی ودي منځنی حد ۹ اعشاریه ۴ سلنه وه چي دا شمیره بیا د ۱۳۹۳ نه تر ۱۳۹۵ کلونو پوري ۲ اعشاریه ۱ سلني ته را ولویده. په ۱۳۹۵ (۲۰۱۶ز) مالي کال کي، د اقتصادي ودي کچه په ۱۳۹۴ کال کي له ۱,۱ سلني[1] څخه ۲,۲ سلني[2] ته زیاتوالی وموند، چي د دي زیاتوالي اصلي لامل د کرهني د سکتور ستره وده وه. له ۱۳۹۱ کال څخه را پدیخوا د پام وړ اقتصادي ودي کموالی، د نړیوالو مرستو د کمښت او د هیواد د روانو امنیتي ستونزو او سیاسي وضعیت کي د مخ پر زیاتیدونکي ابهام د اغیز له کبله دی. په داسي حال کي چي په بودیجه کي د شاملو مالي مرستو کچه د ۱۳۹۱ کال له ۲ میلیارد امریکاي ډالرو څخه په ۱۳۹۵ کي څه باندي ۳ میلیارد امریکایي ډالرو ته لوړه شوي ده، خو د بودیجي نه د بهر مرستو په برخي کي بیا کمی راغلی دی. د پوځي او ملکي مرستو په ګډون کوم چي په بودیجه کي شامل دي او له بودیجي څخه بهر دي، د ټولټال بلاعوضه مرستو شمیر،[3] له ۱۳۸۸ نه تر ۱۳۹۱ کلونو پوري له ۱۲,۵ میلیارد امریکاي ډالرو اټکلیز اوسط څخه په ۱۳۹۴ کي ۸,۸ میلیارد امریکایي ډالرو ته را ټیټ شوي دي.

**۲ شکل: اقتصادي وده (۱۳۸۲-۱۳۹۵)**
***(سلنه)***




**سرچینه:** د احصائیي مرکزي اداره او د نړیوال بانک د کارکوونکو محاسبات

**په ۱۳۹۵ مالي کال کي اقتصادي وده اساساً د کرهني د سکتور د ودي له کبله رامنځته شوی**

کرهني په ۱۳۹۵ مالي کال کي د اقتصادي ودي نیمایي برخه جوړه کړي ده. د همدي کال په جریان کي، د کرهني سکتور ۶ سلنه وده وموندله چي په همدي توګه د اقتصادي ودي د تر ټولو ستري سرچیني په توګه بدل شو. د کرهني د سکتور پیاوړي وده د پام وړ میوو د محصولاتو له برکته و، چي سږ کال یي څه باندي ۳۰ سلنه زیاتوالی درلود. د همدي کال په جریان کي د هوا مناسب وضعیت او په کافي اندازه بارانونه د دي لامل وګرځیدل تر څو د بڼ والۍ تولیدات په بي کچي توګه زیاتوالی ولري. خو په ۱۳۹۵ کال کي د غله جاتو تولید۴,۸ سلنه ټیټوالی درلود، چي په دي منځ کي د غنمو محصولات ۲,۵ سلنه ټیټوالی لري. دا کموالی د غله جاتو په تولید باندي د افاتو او ناروغیو د رامنځته کیدو له کبله و چي دومره ټیټوالی یي لرلی.

**صنایع له انقباض سره مخامخ شوي، په داسي حال کي چي خدماتي سکتور مثبته وده درلوده.**

په هیواد کي د ودانیزو فعالیتونو د ۲,۶ سلني کموالي له کبله، د صنایعو د سکتور تولید د ۰,۸ سلني په اندازي سره کموالی موندلی دی. په ودانیز سکتور کي دا وضعیت د تیرو کلونو د راټیټ ښکارندوی ده چي هان د ۱۳۹۱ او ۱۳۹۴ کلونو تر منځ په داسي حال کي چي په نورو ټولو سکتورونو کي وده ورو کیده، خو ودانیزو فعالیتونو خپله پیاوړي وده ساتلي وه. په ۱۳۹۵ مالي کال کي تولیدي صنایعو شاوخوا

[1] د ۱۳۹۴ کال لپاره لومړنی اټکل شوي وده ۰,۸ سلنه وه، لکه څرنګه چي د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په میاشت کي د افغانستان په اقتصادي رپوټ کي هم خپور شوی. نوموړی اټکل د احصائیي د مرکزي اداري له خوا په دي وروستیو کي د ۱,۱ سلني په کچه تصحیح شو.

[2] د کوکنارو له کښت څخه تر لاسه شوی اضافي ارزښت د ناخالصه کورني تولید په ارقام او شمیرو کي چي په دغه رپوټ کي د هغه یادوونه شوي، شامل نه دی. د ودي رسمي شمیري (د بیلګي په توګه د ۱۳۹۵ کال لپاره د ۳,۶ سلني) چي د احصائیي د مرکزي اداري له لوري یي رپوټ ورکړل شوی دی په هغه کي د تریاکو او کوکنارو اضافي ارزښت شامل دی او محاسبه یي هم د هجري شمسي کال له مخي شوي ده. په دغه رپوټ کي د اقتصادي ودي شمیري له هجري شمسي کال څخه مالي کال (چي د میلادي کال له مخي دی) ته تبدیل شوي دي.

[3] په بودیجه کي شامل بلاعوضه مرستي هغو مالي مرستو ته ویل کیږي چي دولت ته د «اختیاري» (یعني د بودیجي د تمویل لپاره) یا «غیراختیاري» (یعني ځانګړي پروژه اي مرستي) په بڼه په اختیار کي ورکول کیږي. په داسي حال کي چي له بودیجي څخه بهر مرستي مستقیماً د نړیوالو تمویلوونکو له خوا تر سره کیږي او په بودیجه کي نه حسابیږي.

**تقريبي شاخصونه د خصوصي پانګې اچوونې د ودې ښکارندوی نه دي**

۱ سلنه وده وکړه، په داسې حال کې چې د خدماتو سکټور بیا ۲،۲ سلنه وده کړې. د تولیدي صنایعو او خدماتو د سکټور د ودې دغه کچه د همدې سکټورونو د ودې د پخوانیو کچو په پرتله ډېره کمه ده.

۳ شکل: اقتصادي وده (۱۳۸۲ـ۱۳۹۵)
*(سلنه)*




**سرچینه:** د احصائيې مرکزي اداره

په ۱۳۹۵ کال کې د نويو ثبت شويو تشبثاتو شمېر (د سوداګرۍ په سکټور کې له عمده او پرچون تشبثاتو نه پرته) ۹ سلنه کموالی موندلی دی. د خصوصي پانګې اچوونې په اړه د دقيقو ارقامو او امارو د نشتوالي له کبله، د نويو تشبثاتو د ثبت ارقام د پوازينی تقريبي سرچينې په توګه ګڼل کېږي چې د پانګې اچوونې د فعاليتونو د تعقيب لپاره کارول کېږي. په ۱۳۹۵ کال کې، د نويو نقليه وسايطو د ثبت يا جواز ورکولو شمېر هم پوازې ۳،۹ سلنه لوړ ولاړ، چې دا په خپله په خپل وخت سره د ټيټو اقتصادي فعاليتونو د کچې ښکارندوی ده.

**اوسنۍ يو لړ نيول شوي نوښتونه کولای شي د پانګې اچوونې د ودې راتلونکي ښه کاندي**

۴ شکل: د نويو تشبثاتو ثبت مخ په کميدو دی




**سرچينه:** د تشبثاتو د ثبت مرکزي اداره د سوداګرۍ د پرچون او عمده سکټور نه پرته

افغانستان په رسمي ډول د ۲۰۱۶ کال د جولای په ۲۹مه د سوداګرۍ د نړيوال سازمان غړيتوب تر لاسه کړ. په همدې ترتيب له دې سازمان سره د افغانستان په يو ځای کېدو سره به افغانستان د سوداګريزو توکو د ترانزيت اسانتياوو، سوداګريزو شخړو هواري او نړيوالو بازارونو ته لاسرسی ومومي، چې کولای شي د بهرنی مخامخ پانګې اچوونې راتلوکي کې ښه والی راولي. د ۱۳۹۵ کال د غبرګولي په مياشت کې ايران او هند د چاه بهار د ساحلي نبدر د پراختيا هوکړه ليک ته ورسيدل. دغه بندر د ايران په سويل ختيځ سيمه په فارس خليج کې موقعيت لري چې د افغانستان لپاره به نوي ترانزيتي لاره پرانيزي. دغه بندر، د افغانستان لپاره د نښلوونکي ټيټي بيې په لرلو سره کولای شي د افغانستان لپاره په يوه مهم سوداګريز بندر باندې بدل شي. په داسې حال کې چې د سوداګرۍ د نړيوال سازمان د غړيتوب تر لاسه کول او د چاه بهار بندر پرانيستل کولای شي په افغانستان کې د پانګې اچوونې راتلونکي ښه کړي، خو په هيواد کې امنيتي وضعيت ښايي له دې شان سوداګريزو زيربينايي پروژو څخه ګټه اخيستنه لږ ټکنی کړي.

**په ۱۳۹۵ کال کې د ترياکو توليد او د کوکنارو کرل کيدونکو سيمو زياتوالی موندلی**

په ۱۳۹۵ کال کې د ترياکو توليد زياتوالی وموند. له جرمونو او نشه يي توکو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر وروستی رپوټ ښيي چې په کرل کيدونکو سيمو کې دکوکنارو کښت ۱۰ سلنه زياتوالی موندلی او په هر هکتار ځمکه کې د ترياکو تر لاسه کول ۳۰ سلنه وده لرلې ده. دا زياتوال د مشروع غله جاتو د محصولاتو د کارکړنې برخلاف دی ځکه چې مشروع حاصلاتو د همدې کال په ترڅ کې کموالی موندلی. د ترياکو توليد د هيواد په ټولو سيمو کې لوړ شوی او ۴۳ سلنه وده يې لرلې، چې په ۱۳۹۴ کال کې له ۳۳۰۰ ټن څخه په ۱۳۹۵ کې ۴۸۰۰ ټن ته لوړ شوی دی. د ترياکو زياتوالی د هيواد په ټولو سيمو کې رامنځته شوی. د ترياکو په حاصلاتو کې همدا زياتوالی عمدتاً د هغو ناروغيو د نشتوالي له کبله و چې کولای يې شول د پخوا کلونو په څير د کوکنارو حاصلاتو ته صدمه ورسوي.

**٥ شکل: په ۱۳۹۵ کال کې د کوکنارو او ترياکو د کښت سيمو زياتوالی موندلی**

*(ښي محور: هکتار؛ کيڼ محور: متريک ټن)*




سرچينه: UNODC

**په ۱۳۹۱ کال کې د نړيوالو پوځي ځواکونو د وتلو په پيليدو سره او بيا د اقتصادي ودې په راټيټيدو سره، د بيوزلی کچه هم لوړه شوه**

۱۳۹۰ کال کې د نړيوالو پوځي ځواکونو په وتلو سره اقتصادي وده ټپه شویه او امنيتي وضعيت کړکيچنه شوه چې په ترڅ کې يې په ۱۳۹۲ کال کې د بيوزلی کچه ۳۹,۱ سلنه زياتوالی وموند، په داسي حال کې چې دا شميره په ۱۳۹۰ کال کې ۳۶ سلنه وه. دا د دې ښکارندوی ده چې په دې موده کې ۱ اعشاريه ۳ ميليونه وګړي نور هم د بيوزلی د کرښې لاندې وګړو سره زيات شول، کوم چې د خپلو لومړنيو خوراکي او غيرخوراکي اړتياوو د پوره کولو جوګه نه دي. له کومه ځايه څخه چې زياتره وګړي په کليوالي سيمو کې ژوند کوي، نو د بيوزلی شدت زياتره هلته ښه محسوب کيدای شي. د ۱۳۹۰ او ۱۳۹۲ کلونو په منځ کې، په کليوالي سيمو کې د بيوزلی کچه ۱۴ سلنه زياته شوه، داسي چې په کليو کې د بيوزلی کچه له ۳,۳۸ څخه ٦,٤٣سلنې ته زياتوالی موندلی (٦ شکل ته مراجعه وکړئ). له بلې خوا، په ښاري سيمو کې بيوزلی د کډوالو په راغوښتل کيدو او له کليوالي سيمو څخه ښاري سيمو ته د کورنې بيځايه شويو وګړو په ورتلو سره هيڅ بدلون نه دی موندلی. په کليوالي سيمو کې د ژوندانه خراب وضعيت په اصل کې د امنيتي وضعيت د خرابوالي او بهرنيو مرستو په کميدو سره رامنځته شوی دی. په پايله کې، په غيرکرهنيزو سکتورونو کې د کار لپاره غوښتنه را ټيټه شوه، داسي چې په خدماتي سکتور کې زياتره کاري فرصتونه چې د امنيتي ليږد له دوري نه مخکې رامنځته شوي و، له منځه ولاړل.

**٦ شکل: په کليوالي سيمو کې د بيوزلی د کچې زياتوالی**

(د وګړو د فيصدي له مخې د بيوزلی کچه)




**سرچينه:** په افغانستان کې د ژوندانه د وضعيت سروې؛ د ۱۳۹۰ او ۱۳۹۲ کلونو سروې

**جغرافيايي توپيرونه شتون لري**

د هيواد په سويل لويديځو سيمو کې له ۱۳۹۰ نه تر ۱۳۹۲ کلونو  پورې بيوزلې د پام وړ زياتوالی لرلی دی، خو له بلې خوا، د همدې سيمو د بيوزلی مشخصاتو (ځانګړنو) بيا کوم بدلون نه دی موندلی. د سوکالی جغرافيايي توپيرونه، د افغانستان له بيلوبيلو ځانګړتياوو څخه ګڼل کيږي. د هيواد ختيځ، شمال ختيځ او لويديځ مرکزي شاته پاته سيمې په کلکه سره له بيوزلی څخه ځورېدني دي. د ۱۳۹۰ او ۱۳۹۲ کلونو تر منځ، په عمومي توګه په همدې سيمو کې کوم د پام وړ توپير نه دی راغلی، او شاته پاتې سيمې د افغانستان د نورو سيمو په پرتله هماسې بيوزله پاته دي. خو يوازې د سويل لويديځې سيمې د بيوزلی د ځانګړتياوو

په اړه د پام وړ استثنا شته، هغه سيمه چې په هغه کې د بېوزلی کچه له ۲۸ سلنې څخه ۵۶ سلنې ته لوړه شوې. سویل لویدیځه سیمه چې په هغه کې د نیمروز، هلمند، کندهار، زابل او روزګان ولایتونه راځي، په وروستیو کلونو کې یو له شخړه ایزو سیمو څخه شمېرل کېده او هم په ملکي او هم په پوځي برخه کې هلته ستر نړيوال لګښتونه تر سره کېدل. له همدې کبله، د تعجب ځای نه دی چې د امنيتي مسووليتونو د لېږد د بهير په بشپړېدو سره هلته د نړيوالو مرستو په کمېدو سره بېوزلي زياتوالی موند.

## په وروستيو کلونو کې بيکاري زياتوالی موندلی

د کورنيو له تر ټولو وروستی سروې (په ۱۳۹۵ کال کې په افغانستان کې د ژوندانه د وضعيت سروې) څخه د منځ مهاله پايلو موندنې ښيي چې په تېرو دوو کلونو کې د بيکارۍ کچې ۱ سلنه زياتوالی لرلی دی. په ۱۳۹۲ کال کې، د بيکارۍ کچه ۲۲,۶ سلنه اټکل شوې وه، چې په هغه کې د بيکارو ښځو کچه د نارينه و په پرتله دوه نيم ځله زيات راغلی و. په تيره بيا، د بيکارۍ کچه د اړتيا وړ مهارتونو نه لرونکو او بې سواده کسانو په منځ کې خورا ډيره زياته ده، چې له تاريخي اړخه هغوی د بېوزلی له ستر خطر سره هم مخامخ دي. په کلنۍ توګه د وګړو د ۳ سلنې منځنې زياتوالي سره او د اټکل له مخې هر کال د کار بازار ته د ۴۰۰ زرو کارګرانو په راتګ سره، ډيرې سترې اقتصادي ودې کچې ته اړتيا ده تر څو د سړي سر عايد ښه والی ومومي او کيفيت لرونکي کاري فرصتونه کارګري ځواک ته برابر شي.

## تمه کيږي چې د بيرته راستنيدونکو اغيز به پر کورنی غوښتنې باندې ډير کم وي

اوسمهال، افغانستان د کورنۍ تاوتريخوالي د زياتوالي له کبله، د کورنۍ بې ځايه شويو وګړو له چټک زياتوالي سره مخ دی او له بلې خوا د کډوالو له نوي څپې سره چې زياتره يې په جبر سره راستنيږي مخامخ دی. د يو لړ اقتصادي بالقوه مثبتو اغيزو با وجود، تمه نه کيږي چې د کډوالو بيارستنيدل به په لنډمهال کې د کورنۍ غوښتنې پر کچې باندې د پام وړ تحريک کوونکي اغيزه ولري. زياتره بيرته راستنيدونکي په کليوالي سيمو کې په داسې فعاليتونو باندې بوخت دي چې يوازې خپل ژوند پرې پر مخ وړلای شي او په ښاري او نيمه ښاري سيمو کې هم زياتره د کم عايد لرونکي خلک ژوند کوي، چې هغوی هم دولتي مرستو او خدمتونو پورې تړلي دي. سربيره پر دې، په افغانستان کې د خوراکي توکو لوړ وارداتي مقدار ته په کتو سره، د کورنيو په مصرف کې هر ډول زياتوالی، قسماً کولای شي د وارداتو د متقابل زياتوالي لامل وګرځي. له همدې کبله، تمه کيږي چې د هغه خالصه اغيزه به د ناخالصه کورني توليد پر حقيقي ودې باندې ډيره کمه وي.

**۷ شکل: د مصرفي توکو بيې د نړيوالو بيو په ښه والي سره زياتوالی موندلی دی**
(د ۱۲ مياشتني بدلون فيصدي)

**الف. د مصرفي توکو د بيو پرسوب**




**ب. د توکو نړيوالې بيې**




**سرچينه:** د احصائيې مرکزي اداره او نړيوال بانک

## په ۱۳۹۵ کال کې د مصرفي توکو د بيو لوړوالی

په ۱۳۹۴ کال کې د بيو له لويدلو نه وروسته، په ۱۳۹۵ کال کې د خوراکي توکو بيې په بې سارې کچې سره لوړې شوې. د مصرفي توکو د بيو د پرسوب کچه په ۱۳۹۴ کال کې له منفي ۱,۵ سلنې (منځنۍ دورې) څخه په ۱۳۹۵ کال کې ۴,۴ سلنې ته لوړې شوې. د خوراکي او غير خوراکي توکو د بيو لوړوالی دواړه د انفلاسيوني فشار لامل وګرځيدل. د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کلونو تر منځ د خوراکي توکو بيې له منفي ۱,۹ سلنې څخه ۵,۷ سلنې ته لوړې شوې، په داسې حال کې چې په غيرخوراکي توکو کې د بيو لوړوالی لږ و، يعني په ورته دوره کې يې له منفي ۱,۲ سلنې څخه ۳,۲ سلنې ته زياتوالی تر لاسه کړ.

**د بیو لوړیدل په زیات احتمال سره د پیسو د ارزښت د ناوخته راتیټیدو د اغیزو له کبله و**

د بیو لوړیدا په اغلب گومان سره د پیسو د تبادلي د بیو د ناوخته کمښت د اغیزو له کبله رامنځته شوی ده. د پیسو د ارزښت کمښت د ۱۳۹۳ کال (د ۲۰۱۴ په منځنیو کې) پیل شو، داسې چې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت د ۱۳۹۴ کال د مرغومي د میاشتي په پیلیدو سره د ۱۳۹۵ کال د کب تر میاشتي پورې (د ۲۰۱۵ له جنوري نه د ۲۰۱۷ تر مارچ پورې) د ۲۰ سلنې په شاوخوا کې را ټیټ شو. له کومه ځایه څخه چې د افغانستان د مصرفي توکو زیاتره توکي وارداتي دي، نو دا چې د توکو واردات د ناخالصه تولید ۴۰ سلنه په ارزښت دي، نو د پیسو په تبادله کې نوسانات هم پر کورنیو نرخونو باندې د پام وړ اغیزه لرلای شي – خو په لړ ځنډ سره. په لومړیو کې پر کورنیو بیو باندې د افغانۍ د ارزښت د کمښت اغیز په ۱۳۹۴ کال کې د نفتو او خوراکي توکو د نړیوالو بیو په کمښت سره خنثی کړل شو. خو د ۱۳۹۵ کال په لومړنی نیمایي کې چې په نړیواله کچه د نفتو او خوراکي توکو بیو ښه والی وموند (۷ شکل ووینئ)، نو کورنی بیې هم لوړې شوې او د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ د میاشتې له ۰,۲ سلنې څخه د ۱۳۹۵ د غبرګولي په میاشت کې ۴,۱ سلنې ته لوړې شوې. سره له دې هم، د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه نیمایي کې، هم په نړیواله کچه د خوراکي توکو بیې او هم کورنې پرسوب (انفلاسیو) راښکته شول.

## ۳. بهرنی سکتور

**په ۱۳۹۵ کال کې د توکو سوداګریز بیلانس ښه والی تر لاسه کړ**

په ۱۳۹۵ مالي کال کې رسمي صادراتو ۱۰ سلنه زیاتوالی درلود، چې د هغه ټولټال ارزښت ۶۱۴ میلیونه امریکایي ډالر و. د لندو او وچو میوو صادرات چې د افغانستان د صادراتو یو پر دریمه برخه جوړوي، د رسمي صادراتو په لوړولو کې مهم رول درلود. په تیرو دوو کلونو کې کې د بڼ والی په برخه کې د راغلو اصلاحاتو له کبله د میوو په محصولاتو کې هم د پام وړ زیاتوالی راغلی. په داسې حال کې چې د تازه میوو صادرات د بڼ والی د حاصلاتو له اوسني وضعیت سره تړلی دی، خو د وچو میوو صادرات د معمول په څیر د تیر کال په محصولاتو پورې تړلي و، ځکه چې د میوو وچول وخت ته اړتیا لري. له بلې خوا، په ۱۳۹۵ مالي کال کې وارداتو د ۱۳,۵ سلنې په اندازه کمښت درلود، چې ټولټال ارزښت یې ۶,۶ میلیارد امریکایي ډالر کیږي. په وارداتو کې د کمښت بهیر چې له ۱۳۹۲ کال نه را پدیخوا پیل شوی دی دا د کورنی تقاضا د تضعیف او د افغانی د پولي واحد د ارزښت د کمښت له کبله دی. چې دا په خپل وار سره د بیو او وارداتي توکو د لګښت د لوړیدو لامل ګرځیدلی. په پایله کې، سوداګریز بیلانس (د نارسمي سوداګرۍ په ګډون) ښه والی موندلی دی، داسې چې د بیلانس کسر په ۱۳۹۴ کال کې د ناخالصه کورني تولید له ۳۶,۶ سلنې څخه په ۱۳۹۵ کې ۳۳,۳ ته را ټیټ شوی دی.

**۸ شکل: صادراتو په ۲۰۱۶ کال کې زیاتوالی وموند**
(میلیون امریکایي ډالر)




**سرچینه:** د احصائیې مرکزي اداره

## ۱ کادر: د افغانستان په سوداګریز جوړښت کې د سوداګریزو شریکانو له اړخه زیاته تنوع، په وروستیو کلونو کې رادبره شوې ده

په تیره لسیزه کې، د افغانستان سواګریز جوړښت یوازې د څو هیوادونو پر وړاندې متمرکز و. د تیرو څو کلونو په ترڅ کې د افغانستان تر ټولو ستر سوداګریز شریک، یعنې پاکستان، د صادراتو او وارداتو په ګډون د افغانستان د سوداګرۍ څه باندې نیمایي سوداګري (۵۶،۵ سلنه) خپل ځان ته ځانګړې کړې و. د محصولاتي صادراتو له اړخه هم د افغانستان سوداګریز جوړښت متمرکز و، داسې چې په صادراتي توکو کې یې یوازې څو قلمه محصولات و چې هغه هم کرهنیز محصولات یا هم په کرهنې پورې اړوند صنعتي محصولات (لکه غالۍ) داسې و.

متمرکز سوداګریز جوړښت، څه د محصولاتو له اړخه او څه د سوداګریزو شریکانو له اړخه، هیواد د بهرنۍ سوداګرۍ نه د راولاړو شویو ټکانونو پر وړاندې ډیر ځورمنونکی ګرځوي. اماري ځیرنې ښیې چې د متمرکزي سوداګریز جوړښت او ډیرو کمو متنوع سوداګریزو جوړښتونو لرونکي هیوادونه د اقتصادي ودې له زیاتو نوساناتو څخه رنځ وړي او په اوږدمهال کې له ټیټې اقتصادي ودې او د بیوزلۍ او نابرابرۍ له لوړې کچې سره لاس او ګریوان وي.




**۹ شکل: د سوداګریزو شریکانو له اړخه د سوداګریز جوړښت تمرکز؛ د هرفنډال (Herfindahl) شاخص**

**سرچینه:** د نړیوال بانک د کارکوونکو محاسبات

اوس مهال، د افغانستان سوداګریز جوړښت له خپلو سوداګریزو شریکانو سره یې د تیرې لسیزې په پرتله ډیر کم متمرکز دی. له پاکستان سره د افغانستان د سوداګرۍ راکړې ورکړې کچه چې په ۱۳۸۷ کال کې ۵۶،۵ سلنه وه په ۱۳۹۴ کال کې ۳۸،۹ سلنې ته را ټیټه شوه. په ورته وخت کې، ایران اوس مهال د هیواد د وارداتو لپاره په تر ټولو ستر بازار (۱۴،۵ سلنه) باندې بدل شوی دی او د هند هیواد اوس د افغانستان د صادراتو لپاره په تر ټولو ستر بازار (۳۱،۳ سلنه) باندې اوښتی دی. د افغانستان له سوداګریزو شریکانو سره د تمرکز کچه – لکه څرنګه چې د هرفنډال (Herfindahl) د شاخص له خوا یې اندازه ګیري شوې –د ۱۳۸۷ او ۱۳۹۴ کلونو تر منځ د صادراتو او وارداتو لپاره – دواړو – کمښت موندلی دی (۹ شکل ته مراجعه وکړئ).

د منځنۍ اسیا او ایران له لارې د ترانزیټي لارو په شمیر کې زیاتوالی، له افغانستان څخه او افغانستان ته د توکو د لیږد مسیر لا ډیر متنوع کړی دی. په دې سره په زیات احتمال د هیواد اقتصاد د بهرنیو ټکانونو په وړاندې لا ډیر ثابت او کړتیا منونکی (انعطاف منونکی) کړی دی. لکه څرنګه چې د ۲۰۱۷ کال د فبرورۍ په میاشت کې د تورخم دروازې په تړل کیدو سره د پخوانیو ورته پیښو په پرتله په هیواد کې د توکو د بیو پر لوړوالي باندې ډیره کمه اغیزه کړې وه.

**۱۰ شکل: له ۱۳۸۷ څخه تر ۱۳۹۴ کال پورې د افغانستان لس غوره سوداګریز شریکان**
(د فیصدي ونډه)






**سرچينه:** نړيوال بانک (WITS) د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې (UN COMTRADE)

**په ۱۳۹۵ کال کې د افغانۍ راکړه ورکړه په نوسان حالت کې وه، او افغانۍ په منځنۍ کچه خپل ارزښت له لاسه ورکړ**

په ۱۳۹۵ مالي کال کې د امریکايي ډالرو په وړاندې د افغانۍ پولي ارزښت په منځنۍ کچه ۱۰،۵ سلنه کموالی وموند. که څه هم د د کال وروستی شمېرو کم کمښت – یعني ۱،۲ سلنه- ښوول. د کال په اوږدو کې، د افغانۍ د راکړې ورکړې کچه په نوسان حالت کې و: د کال په لومړۍ نیمایي کې يې خپل ارزښت له لاسه ورکړ، خو بیرته د همدې کال په دویمه نیمایي کې يې خپل ارزښت تر لاسه کړ. په منځنۍ کچه د افغانۍ د ارزښت ټیټوالی په ۱۳۹۵ کال کې کولای شو هیواد ته د خالصې پانګې د جریان د کمښت پایله وبولو او همداشان په امریکايي ډالرو سره د خپلو پس اندازونو ساتنې ته د کورنیو تمایل وبولو – چې دا په خپله د افغانۍ پیسو لپاره د کمې غوښتنې په معنی – تعبیر کیدای شي. د ۱۳۹۵ کال د کب په میاشت کې افغانۍ د امریکايي ډالرو او یورو په وړاندې په ترتیب سره ۶۸،۴ او ۷۱،۹ پیسو باندې تبادله کیده.

**نغدي زیرمو په ۱۳۹۵ کال کې زیاتوالی وموند**

د ۱۳۹۴ کال په زیاترو میاشتو کې د نغدي زیرمو د کمښت نه را وروسته، په ۱۳۹۵ کال کې نغدي زیرمو ۸،۵ سلنه زیاتوالی وموند او ۷،۳ میلیارد امریکايي ډالرو ته ورسیدې، چې دا مقدار بیا د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ په میاشت کې د ۶،۷ میلیارد امریکايي ډالرو په شاوخوا کې ثبت شوې وې. د نغدي زیرمو زیاتوالی، اغلباً د وارداتو له کمښت سره تړاو لري. د نغدي ناخالصو زیرمو اوسنۍ کچه د ۱۱ میاشتو وارداتو لپاره کفایت کوي.

**۹ شکل: د افغانیو د راکړې ورکړې بیه او د نغدي زیرمو ارزښت**




**سرچینه:** د افغانستان بانک

## ٤. مالي بدلونونه

**په ۱۳۹۵ کال کې د عوایدو په را ټولولو کې زیاتوالی راغی، چې د ۱۳۹۴ کال د ارقامو په نسبت شاوخوا ۱۵ سلنه زیاتوالی ښیي**

حکومت په ۱۳۹۵ کال کې د عوایدو د راټولولو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنه درلوده. ټولټال ۱۴۱,۲ میلیارد افغانی[٤] د عوایدو له لارې را ټولې شوي دي، چې دا په خپله د تیر کال په پرتله د ۱۵,۳ سلنه زیاتوالي ښکارندويي کوي. له ۱۳۹۳ کال سره په پرتله، چې په هغه کال کې د عوایدو را ټولول ۹ سلنه کمښت موندلی و، خو په ۱۳۹۵ کال کې بیا عوایدو ۴۱ سلنه زیاتوالی درلود. د عوایدو په ډیروالي کې، هم مالیاتي عوایدو (پرته له ګمرکي عوایدو) او هم غیرمالیاتي عوایدو ونډه لرله. مالیاتي عواید، چې د ټولو عوایدو نږدې نیمايي برخه جوړوي، په ۱۳۹۵ کال کې یې شاوخوا ۱۷ سلنه زیاتوالی درلود. غیرمالیاتي عواید، چې د ټولو عوایدو څه کم درییمه برخه جوړوي، ۲۵ سلنه زیاتوالی یې لرلی. خو سره له دې، ګمرکي عوایدو په تیرو دریو کلونو کې یوازې ۳ سلنه زیاتوالی لرلی دی، هغه هم په دې خاطر چې د وارداتو کچه را ټیټه شوې ده. له ۱۳۹۰ کال راپدیخوا، د ګمرکي عوایدو کچې وده تر نورو عایداتي سرچینو ډیره کمه وه؛ چې د ۱۳۹۰ او ۱۳۹۵ کلونو په منځ کې یې یوازې ۲ سلنه زیاتوالی لرلی دی. په پایله کې، د ټولټال کورنیو عوایدو په برخه کې د ګمرکي عوایدو ونډه د ۱۳۹۰ کال له ۳۱ سلنې څخه په ۱۳۹۵ کال کې۲۲ سلنې ته ټیټوالی درلودلی دی.

**په ۱۳۹۴ کال کې د نویو مالیاتي ګامونو په معرفي کولو سره او همداشان د مالیاتو د مدیریت ښه والی د عوایدو په ډیرولو کې مرسته کړې ده**

په ۱۳۹۵ کال کې د مالیاتي عوایدو د را ټولولو په برخه کې ښه والی، کیدای شي د دولت له خوا د ۱۳۹۴ کال په وروستیو کې د ځینو نویو مالیاتي تګلارو په تر لاس لاندې نیولو پورې اړوند وبلل شي. د ۱۳۹۴ کال په دویمه ربعه کې، ځیني نوي مالیاتي ګامونه واخیستل شول، لکه: (الف) پر انتفاعي معاملو باندې له ۲ سلنې څخه ۴ سلنې ته د مالیې د بیې لوړول؛ (ب) پر مخابراتي اړیکو باندې د ۱۰ سلنه مالیې لګول؛ (ج) د تیلو د محصول لوړول په هر لیتر باندې له ۱ افغانۍ څخه ۲ افغانیو ته؛ (د) د افغانستان له هوایي حریم څخه د تیریدونکو الوتنو د تعرفې لوړول. په ۱۳۹۵ کال کې له همدې پورتنیو کړنو څخه ټولټال ۱۷ میلیارد افغانۍ عواید تر لاسه شوي دي. سره له دې، د عوایدو د همدې ډیروالي یو علت د مالیاتو په راټولولو کې د اصلاحاتو پلي کول او په هیواد کې د مالیاتي تمکین ښه والی هم بلل کیدای شي.

**د ناخالصه کورني تولید په تناسب، د عوایدو د راټولولوني کارکرنه ډیره لږه ده**

په ۱۳۹۵ کال کې ټولټال را ټول شوي مالیاتي عواید د ناخالصه کورني تولید له ۱۰,۵ سلنې سره برابر و، چې دا د ۱۳۹۴ کال له ۱۰,۱ سلنې څخه لږخه لوړه شمیره ده. خو بیا هم په ۱۳۹۰ کال کې د ۱۱,۶ سلنې ناخالصه کورني تولید په پرتله، ډیر ټیټ دی.

[٤] په دغو شمیرو کې هغه ۱۰ میلیارد افغانۍ نه دي شاملې کوم چې د افغانستان بانک (مرکزي بانک) څخه د افغانۍ د پولي ارزښت د ټیټوالي په پایله کې د ارزي شتمنیو له لارې تر لاسه شوي ګټه وه او د دولت خزانې ته را لیږل شوي وي. همداشان هغه دوه میلیارد افغانۍ چې د ښار جوړولو او مسکن او کرهنې، مالدارۍ او اوبو لګولو د وزارتونو له دوو دولتي تصدیو څخه مالیې وزارت ته را لیږدول شوي وي، هغه هم نه دي پکې شاملې.

**۱۰ شکل: په تیرو دوو کلونو کي د عوایدو راټولول په پر له پسي توګه زیاتوالی وموند**
(میلیارد افغانی)




**سرچینه:** د مالیي وزارت

**عامه لګښتونه د عادي ملکي او پرمختیایي لښکتونو د لوړیدو له کبله زیاتوالی موندلی**

په ۱۳۹۵ مالي کال کي عامه لګښتونو، د اسمي ارزښت له مخي ۷،۵ سلنه زیاتوالی موندلی و، چي ۳۴۳ میلیارد افغانی (۵،۱ میلیارد امریکایي ډالر) کیدلي.[°] د ملکي معاشاتو لګښتونو هم ۷،۵ سلنه زیاتوالی درلود چي هغه هم د عامه خدمتونو د مامورينو لپاره د فوق العاده تحصیلي حقونو د پیژندني له کبله لوړ شول. د ملکي ساتني او پالني د لګښتونو کچي هم ۱۳ سلنه وده درلوده، یعني په ۱۳۹۴ کال کي له ۱۷ میلیارد افغانی څخه په ۱۳۹۵ کال کي ۱۹،۵ میلیارد افغانیو ته یي جګوالي درلود. او په پای کي هم، د ټولنیزو لیږدونو لګښتونو شاوخوا ۳۰ سلنه زیاتوالی موندلی، چي د دي اصلي علت هم د شهیدانو او معلولینو کورنیو ته د اعانه د پیسو د ورکړي د لګښتونو زیاتوالی دی. په ورته وخت کي، دولت په ۱۳۹۵ مالي کال کي، خپله اختیاري پرمختیایي بودیجه زیاته کړه. اختیاري پرمختیایي لګښتونه هم شاوخوا ۶۰ سلنه لوړ شول، ځکه چي په مالي سرچینو کي زیاتوالي (یعني کورني عواید او بلاعوضه مرستي «اختیاري») حکومت ته د دي اجازه ورکړه تر څو یو زیات شمیر اختیاري پرمختیایي پروګرامونه تمویل کړي. له بلي خوا، امنیتي لګښتونو چي د عادي لګښتونو د بودیجي څه باندي نیمایي برخه جوړوي، د ۱۳۹۴ کال له کچي سره په ورته کچه کي پاته شوي دي. سره له دي، د ناخالص کورني تولید په تناسب، د عامه لګښتونو کچه یو څه اندازه ښکته راغلي ده، یعني د ۱۳۹۴ کال له ۲۶،۴ سلني څخه په ۱۳۹۵ کال کي ۲۵،۶ سلني ته را ټیټه شوي ده.

**د پرمختیایي بودیجي د تطبیق کچي ښه والی نه دی موندلی**

د بودیجي (د عادي او پرمختیایي بودیجو په ګډون) د لګولو کچه تر یوه بریده د ۱۳۹۴ مالي کال له ۷۳ سلني څخه په ۱۳۹۶ مالي کال کي ۷۶ سلني ته لوړوالی وموند. دا توپیر هم په اصل کي د عادي بودیجي د لګولو په برخه کي د راغلو اصلاحاتو له مخي دی، چي په همدي دوو کلونو کي یي له ۸۰ سلني څخه ۹۰ سلني ته زیاتوالی موندلی دی. سره له دي، د پرمختیایي بودیجي د لګولو کچه، بیا هم د دویم پرله پسي کال لپاره په ۵۴ سلنه کي ولاړه پاته ده. د تدارکاتو وخت نیوونکي مقررات او لوایح، په ولایتونو کي ټیټ ظرفیت (ورتیاووي) او په عمومي توګه د امنیتي وضعیت کرکیچن توب دا ټول هغه دلایل دي چي د پرمختیایي بودیجي د لګولو د ټیټي کچي لامل ګرځیدلي دي.

[°] په دغه شمیره کي هغه ۱۰،۲ میلیارد افغانی چي د مالیي وزارت له خوا د افغانستان بانک ته د کابل بانک د ستونزي لپاره ورکړل شوي، شاملي نه دي.

**نغدي زیرمي یو ځل بیا د ۱۳۹۳ کال نه مخکې کچې ته ورسیدي**

د ۱۳۹۳ (۲۰۱۴ز) کال د مالي کرکیچ په درشل کي، د دولت د عوایدو کچه ډیره راښکته شوه، ناورکړل شوي پورونه لوړ شول او عامه لګښتونه راکم شول. له هغه څخه دوه کاله وروسته، دولت وکولای شول چي یوې متوازني بودیجي – هان په ډیر کم مازاد لرلو سره – ته لاسرسی وموي او خپلي نغدي زیرمي یو ځل بیا زیاتي کړي. دي بریالیتوب ته لاسرسی د عوایدو د را ټولولو د ښه والي او د نړیوالو مرسته کوونکو له خوا په منظم ډول سره په بودیجه کي د شاملو بلاعوضو مرستو د ورکړي له کبله و، چي همدغه مرستي په ۱۶ سلنې زیاتوالي سره په ۱۳۹۵ مالي کال کي درې اعشاریه شپږ میلیارد امریکایي ډالرو ته ورسید. د اختیاري بودیجي په برخه کي – یعني عادي او پرمختیایي اختیاري بودیجه – دولت په ۱۳۹۵ مالي کال کي د ۱۱ اعشاریه ۸ میلیارد افغانیو (یا صفر اعشاریه ۹ سلنه د ناخالصه کورني تولید) کوچني مازاد ته ورسید، په داسي حال کي چي په ۱۳۹۳ مالي کال کي د بودیجي کسر ۱۹ میلیارد افغانی (یا منفي ۱,۷ سلنه د ناخالصه کورني تولید) و. د ۲۰۱۴ کال مالي کرکیچ د نغدي زیرمو د خالي کیدو لامل وګرځید، چي په ترخ کي یې د ۲۱ میلیارد افغانیو پرانیستونکی بیلانس په ۲۰۱۴ کال کي ۸,۷ اختتامیه بیلانس ته را ټیټ شو. په تیرو دوو وروستیو کلونو کي د عامه لګښتونو غوره مدیریت او زیاتو اختیاري مالي سرچینو ته لاسرسی (عوایدو او بلاعوضو اختیاري مرستو) دولت د دي جوګه وګرځاوه تر څو د ۱۳۹۵ مالي کال تر پایه پوري نغدي زیرمي بیرته ۲۱ میلیارد افغانیو کچې ته ورسوي.

**۱ جدول: په ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ مالي کلونو کي پرتلیزه لګښتونه**

*(ارقام په میلیارد افغانی)*

| لګښتونه | ۱۳۹۴ مالي | ۱۳۹۵ مالي |
|---|---|---|
| عادي لګښتونه | ۲۳۵,۹ | ۲۴۸,۹ |
| پوځي | ۱۴۳,۶ | ۱۴۵,۵ |
| ملکي | ۹۲,۳ | ۱۰۳,۴ |
| تنخوا او مزد | ۵۴,۵ | ۵۸,۶ |
| پالنه او ساتنه | ۱۷,۳ | ۱۹,۵ |
| پانګه ایز لګښتونه | ۲,۳ | ۲,۳ |
| تعاقد او ټولنیز انتقالات | ۱۷,۰ | ۲۲,۲ |
| اختیاري پرمختیایي لګښتونه | ۱۸,۰ | ۲۹,۰ |
| عادي لګښتونه + اختیاري پرمختیایي لګښتونه | ۲۵۳,۹ | ۲۸۸,۱ |
| غیراختیاري پرمختیایي لګښتونه | ۶۴,۹ | ۶۴,۹ |
| ټولټال لګښتونه | ۳۱۸,۸ | ۳۴۲,۸ |

سرچینه: د مالیې وزارت

**۱۱ شکل: په ۱۳۹۵ مالي کال کي بودیجوي بیلانس متوازن و**

(میلیارد افغانی)




**سرچینه:** د مالیې وزارت

## ۵. د پولي او بانکي سکتور بدلونونه

**پیسو ته تقاضا زیاتوالی موندلی چي ښایي د نرخونو د لوروالي له کبله وي.**

د پراخو پیسو (M۲) د ودي کچه، چي د دوران پیسي او د سوداګریزو بانکونو امانتونه پکي راځي، د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ تر میاشتي پوري (د ۲۰۱۶ کال دیسمبر میاشت) ۹,۷ سلنه وه (چي له تیرو ۱۲ میاشتو سره په پرتله) یې زیاتوالی موندلی، په داسي حال کي چي دا شمیره د تیر کال په ورته وخت کي ۳,۱ سلنه وه. په دغه دوره کي په دوران/ګردش کي د بندو پیسو وده هم له ۴,۱ سلنې څخه ۱۰,۳ سلنې ته لوړه شوه. پیسو ته د تقاضا زیاتوالی احتمالاً د پرسوب (انفلاسیون) د فشارونو د زیاتوالي له کبله رامنځته شوی دی. د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ په میاشت کي، د سوداګریزو بانکونو امانتونو په کلنۍ کچه ۱۰,۳ سلنه وده وکړه. سره له دي چي دا وده د تیر کال د ۳,۴ سلنې ودي په پرتله ډیره ده، خو بیا هم د ۱۳۹۲ کلونو نه وړاندي د ودي د کچې په پرتله ډیر ټیټ ده.

**د سوداګریزو بانکونو کارکړنه یو ډول نه و**

خصوصي سکتور ته د سوداګریزو بانکونو د پور ورکړه د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ د میاشتي له پیل څخه (۲۰۱۵ کال دیسمبر میاشت) د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ تر میاشتي پوري (د ۲۰۱۶ کال د دیسمبر میاشت پوري) د پخوا په شان په ورته کچه کي ده، چي ټولټال شاوخوا ۴۶ میلیارد افغانی دي. دا چي خصوصي سکتور ته ولي د

پور په ورکړه کې زیاتوالی نه دی راغلی یو دلیل یې هم دا دی چې ښايي په خصوصي پانګه اچوونه کې کموالی راغلی یا هم ښايي د پور په ورکړه کې د بانکونو تمایل کم شوی وي. په داسې حال کې چې د ۱۳۹۵ لومړني نیمايي مالي کال شمیرې د پور په ورکړه کې مثبته وده ښيي، خو دا زیاتوالی د مبادلاتو په بیه کې کمښت د اغیز له کبله دی، څکه چې دا امر د سوداګریزو بانکونو د شتمنیو ارزښت لوړوي. په افغانستان کې په امریکایي ډالرو باندې لوړې کچې معاملاتو ته په کتو سره – چې د هیواد اقتصاد یې (ډالري) کړی دی- د ډالري امانتونو او پورونو ونډه خورا زیاته ده، داسې چې کچه یې په ترتیب سره ۶۸ او ۶۳ سلنه ښودل شوي ده. سربېره پر دې، په ۱۳۹۶ مالي کال کې د بانکونو د شتمنیو کیفیت ښه والی موندلی دی. د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ په میاشت کې د صعب الحصول پورونو نسبت له ۱۲,۱ سلنې څخه د ۱۳۹۵ کال د لیندۍ په میاشت کې ۱۰,۸ سلنې ته راټیټ شوی، چې د دې کمښت اصلي علت هم د تضمیني شتمنیو استملاک و. بانکي سکټور په ۱۳۹۶ کال کې ګټه کوونکی پاته شوی، چې زیاتره ګټه له بې سوده عایداتو څخه تر لاسه شوې ده.

**۱۲ شکل: د پولي شاخصونو او بانکي امانتونو وده**
(د ۱۲ میاشتنی بدلون فیصدي)




**سرچینه:** د افغانستان بانک

**د افغانستان مالي سکټور ډیره کمه پراختیا موندلې، لکه څرنګه چې د مالي وساطت کچه ډیره ټیټه ده.**

سوداګریز بانکونه د هیواد مالي سکټور ستره برخه جوړوي، په داسې حال کې چې نورو مالي خدمتونو ډیره کمه پراختیا موندلې او د مالي منځګړتوب په برخه کې ډیره کمه ونډه لري. په داسې حال کې چې د بانکي سکټور شتمنۍ د ۱۳۹۶ کال د لیندۍ تر میاشتې پورې د ناخالصه کورني تولید ۲۳ سلنه جوړوله، د هغو پورونو ارزښت چې د بانکونو له خوا خصوصي سکټور ته ورکړل شوي دي یوازې د ناخالصه کورني تولید ۳,۴ سلنه جوړوي. بانکي سکټور په فوق العاده توګه سره ناځرګنده (سیال) پاته شوی او د بانکونو د ناځرګنده شتمنیو تناسب د تیرو دوو کلونو په درشل کې څه باندې ۷۰ سلنه و، چې دا په خپله د ډیر کم مالي وساطت (منځګړتوب) ښکارندوی ده. دولت د بانکي چارو د سکټور د اعتبار او صداقت د ځیرلو په موخه د بانکونو د مالي ځارنې د پراختیا او ښه والي او احتیاطي تدابیرو د نیولو لپاره زیاتې هلې ځلې کړې دي.

# ب. منځ مهاله لیدلوری

**اټکل کیږي چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې به اقتصادي وده ۲،۶ سلنې ته ورسیږي**

په ۱۳۹۶ (۲۰۱۷ز) مالي کال کې به اقتصادي وده ډیره کمه وي او ۲،۶ سلنې ته به ورسیږي. په داسې حال کې چې دا په خپله له ۲۰۱۴ کال را وروسته د اقتصادي ودې د نرم زیاتښت ښکارندويي کوي، خو بیا هم د ۱۳۸۲ او ۱۳۹۱ کلونو تر منځ د ۹،۶ سلنې منځنۍ ودې څخه ډیره ټیټه وده ده. د مخ پر زیاتیدونکو زورزیاتیو او سیاسي بې ثباتۍ له کبله کمزوري کورنۍ تقاضا (غوښتنه) او پانګې اچوونې ته د خلکو کمه علاقمندي، د دې لامل ګرځیدلی تر څو له ۱۳۹۳ کال را پدیخوا اقتصادي وده په ټر تولو ټیټه کچه کې واوسي. تمه کیږي چې په ۱۳۹۶ مالي کال کې، د صنایعو او خدمتونو د سکټورونو وده په ترتیب سره ۲،۵ او ۲،۶ سلنه واوسي، په داسې حال کې چې د کرهنې د سکټور د ودې کچه به ۱،۵ سلنه وي.

**د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان د غړیتوب تر لاسه کول او زیربنایي پروژې کولای شي خصوصي پانګې اچونې او سوداګریزو فعالیتونو ته لاره هواره کړي.**

د افغانستان له خوا د نړۍ د سوداګرۍ د سازمان د غړیتوب تر لاسه کول، په ایران کې د چاه بهار بندر پرانیستل (په کم لګښت سره د ټرانزیټ بدیل لارې په توګه)، د هندوکش د مواصلاتي لارو د پروژې پیلیدل او ځینو نورو ملي او سیمه ایزې پروژې کولای شي خصوصي پانګې اچوونې او سوداګریزو فعالیتونو ته لاره هواره کړي. سربیره پر دې، د افغان حکومت له خوا د ځینو مهمو اصلاحاتو په پیلولو سره لکه له اداري فساد سره مبارزه، د عوایدو را ټولول او د خصوصي سکټور پراختیا کولای شي په اوږدمهال کې د اعتماد له بیا را ژوندي کولو سره مرسته وکړي، که څه هم په لنډمهال کې به د دې اصلاحاتو پایلې ډیرې کمې وي. په هر حال، تر هغه وخته پورې چې امنیتي ستونزې او سیاسي ناڅرګندتیا حل شوې نه وي، دا ډول اصلاحات به پر اقتصادي ودې باندې ډیره کمه اغیزه وښندي.

**تمه کیږي چې اقتصادي وده به منځ مهال کې په تدریجي توګه زیاتوالی ومومي**

تمه کیږي چې د اقتصادي ودې کچه په تدریجي توګه تر ۱۳۹۹ (۲۰۲۰ز) کال پورې تر ۳،۶ سلنې پورې زیاتوالی ومومي. په راتلونکو کلونو کې د اقتصادي ودې زیاتوالی د امنیتي وضعیت په ښه والي، سیاسي ټیکاو ته په لاسرسي، د اداري اصلاحاتو په پرمختګ او د بهرنیانو له خوا په زیاتې مرستې پورې تړلې دی. تمه ده چې د بیوزلۍ کچه به کاري ځواک ته د تقاضا د ټیټې کچې له کبله او د امنیتي ننګونو له کبله د دولتي خدمتونو د وړاندې کولو د محدودیتونو له کبله بیا هم په لوړه کچه کې باقي وي، سره له دې چې د کرهنې د سکټور غوره کارکرنه او د خوراکي توکو ټیټې بیې به د بیوزلۍ د له منځه وړلو لپاره مثبتې پایلې ولري.

**په ۱۳۹۶ مالي کال کې د بوې متوازنه بودیجه تمه کیږي**

په ۱۳۹۶ (۲۰۱۷ز) مالي کال کې کورني عواید د ناخالصه کورني تولید ۱۰،۸ سلنې په اندازه اټکل شوی، په داسې حال کې چې دا شمیره تیر کال ۱۰،۵ سلنه وه. په داسې حال کې چې دا په کورني عوایدو کې شاوخوا ۱۲ سلنه اسمي وده ده، دا مقدار وده د ۱۳۹۴ او ۱۳۹۵ کلونو تر کچې ډیر کم ده. همداشان، هیله کیږي تر څو عامه لګښتونه هم پورته ولاړ شي. تمه ده چې عامه ټولټال لګښتونه په ۱۳۹۶ مالي کال کې د ناخالصه کورني تولید ۲۷ سلنې ته زیاتوالی ومومي، چې دا شمیره تیر کال ۲۵،۶ سلنه وه، چې زیاتره دغه زیاتوالی د لوړو امنیتي او پرمختیایي لګښتونو له کبله وه. هیله کیږي چې مالي بلاعوضه مرستې د ناخالصه کورني تولید ۱۶،۸ سلنې ته ورسیږي، تر څو دولت وکولای شي مالي بودیجه متوازنه وساتي او هان د خپل ناخالصه کورني تولید شاوخوا ۰،۴ سلنه څه ناڅه مازاد ولري.

**په منځ مهال کې، مالي پایلې به دبهرنیو مرستو په مقدار او د لګښت په ډول پورې تړلې وي**

په منځ مهال کې به مالي پایلې د ژمن شویو مالي مرستو د ورکړې په کچې او ډول پورې تړلې وي. د بودیجې ټولټال لګښت به په ۱۳۹۵ مالي کال کې د ناخالصه کورني تولید له ۲۵،۶ سلنې څخه په ۱۳۹۹ (۲۰۲۰ز) مالي کال کې ۳۰،۳ سلنې ته ورسیږي. دا زیاتوالی په اصل کې د دې ښکارندويي کوي چې امنیتي لګښتونه چې پخوا په مستقیمه توګه د نړیوالو شریکانو له خوا په غاړه اخیستل شوي و اوس د دولت بودیجې ته لیږل کیږي. په هیواد کې د ستر او مخ پر زیاتیدونکي جمعیت لپاره د موجوده خدمتونو د تر سره کیدو لپاره د ملکي لګښتونو زیاتوالی او د بنسټیزو زیربناګانو او هغو زیربناوو کوم چې د بهرنیانو په مرسته جوړ شوي دي او اوس دولت ته په واک کې ورکړل شوي دي، د هغوی د ساتنې او پالنې لپاره زیاتو لګښتونو ته اړتیا ده. که چیرته دولت وکولای شي چې د مالیاتو د مدیریت او ورکړې په برخه کې وروستي پرمختګونه خوندي وساتي، اټکل کیږي چې تر ۱۳۹۹ مالي کال پورې به کورني عواید د ناخالصه کورني تولید ۱۲ سلنې ته ورسیږي.

خو په دې حالت کې به هم، عواید یوازې ۴۰ سلنه د بودیجې لګښتونه تر پوښښ لاندې راولي. افغانستان د ناخالصه کورني تولید د ۱۸ سلنې په اندازې سره ملکي مرستو ته اړتیا لري تر څو ټولنیز لومړني خدمتونه او پرمختیایي پروګرامونه د راتلونکو کلونو په درشل کې تمویل کړي. د دولت د بودیجې له

لاري د عامه لګښتونو د کچي زياتوالي ته په کتو سره، چي پخوا به د تمويلوونکو له خوا د دولت له بوديجي بهر لګيدلي، خو اوس اړتيا ده تر څو د مالي مرستو د تمويلوونکو ځيني برخي د دولت د بوديجي له لاري ولګول شي. سره له دي هم، د دولت بوديجي ته د تمويلوونکو له خوا د مالي مرستو په ليږد کي هر ډول تعلل به د مالي فشار د زياتوالي لامل وګرځي او افغانستان به په داشان وضعيت کي له سختو شرايطو سره مخ وي.

**٢ جدول: د لوی اقتصاد منځ مهاله چارچوکات، ١٣٩٣ـ ١٣٩٩**

| | ١٣٩٣ | ١٣٩٤ | ١٣٩٥ | ١٣٩٦ | ١٣٩٧ | ١٣٩٨ | ١٣٩٩ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | -------ريښتيني شميرې/ اټکلونه-------- | | | | --- د کارکوونکو لنډمهاله وړاندوينه --- | | |
| حقيقي اقتصادي وده (%) | ١,٣ | ١,١ | ٢,٢ | ٢,٦ | ٣,٤ | ٣,١ | ٣.٦ |
| اسمي ناخالصه کورني توليد (په مليارد افغانی) | ١،١٥١ | ١،٢١٠ | ١،٣٣٨ | ١،٤٦٦ | ١،٦٠٣ | ١،٧٣٦ | ١،٨٨٥ |
| د پرسوب کچه (منځنی دوره، د فيصدي له مخي) | ٤,٦ | –١,٥ | ٤,٤ | ٦,٠ | ٥,٠ | ٥,٠ | ٥,٠ |
| ***مالي برخه*** | *د ناخالصه کورني توليد په فيصدي سره* | | | | | | |
| عوايد او مرستي | ٢٤,٤ | ٢٥,١ | ٢٦,٢ | ٢٧,٦ | ٢٨,٣ | ٢٨,٨ | ٢٩,٥ |
| کورني عوايد | ٨,٧ | ١٠,١ | ١٠,٥ | ١٠,٨ | ١١,٠ | ١١,٥ | ١٢,٠ |
| بهرنی مرستي | ١٥,٧ | ١٥,٠ | ١٥,٦ | ١٦,٨ | ١٧,٣ | ١٧,٣ | ١٧,٥ |
| ټولټال لګښتونه | ٢٦,٢ | ٢٦,٤ | ٢٥,٦ | ٢٧,٢ | ٢٨,٤ | ٢٩,٢ | ٣٠,١ |
| عادي لګښتونه | ١٩,٨ | ١٩,٥ | ١٨,٥ | ١٩,١ | ١٩,٧ | ٢٠,٤ | ٢١,١ |
| پرمختيايي لګښتونه | ٦,٣ | ٦.٩ | ٧,٠ | ٨,١ | ٨,٧ | ٨,٨ | ٩,٠ |
| ټولټال بيلانس (د مرستو په ګډون) | -١,٨ | -١,٣ | ٠,٦ | ٠,٤ | -٠,١ | -٠,٤ | -٠,٥ |
| ټولټال بيلانس (له مرستو پرته) | -١٧,٥ | -١٦,٢ | -١٥,٠ | -١٦,٤ | -١٧,٤ | -١٧,٧ | -١٨,١ |
| ***بهرنی برخه*** | | | | | | | |
| د سواګرۍ بيلانس | -٣٩,٦ | -٣٦,٦ | -٣٣,٣ | -٣٢,٥ | -٣٢,٣ | -٣٣,١ | -٣٢,١ |
| د جاري بيلانس حساب (د مرستو په ګډون) | ٨,٠ | ٥,٤ | ٤,٤ | ٣,٤ | ١,٠ | -١,٠ | -٢,٧ |

سرچينه: د نړيوال بانک د کارکوونکو وړاندويني

**١٥ شکل: د بوديجي کسر (پرته له بهرنيو مرستو څخه) په تل زياتوالی وومومي**

(د ناخالصه کورني توليد په فيصدي)



**تمه کیږي چي نرخونه به ثابت وي او د اوسني حساب بیلانس به په مازاد کي پاته شي**

هیله کیږي چي په ۱۳۹۶ (۲۰۱۷ز) مالي کال کي به د پیسو پرسوب (انفلاسیون) ۶ سلني ته ورسیږي، چي د دي عامل هم د پیسو د ارزښت ناوخته کمښت دی چي د ۱۳۹۵ کال تر نیمايي پوري به ادامه ولري. د همدي زیاتیدو باوجود، د پرسوب کچه د افغانستان بانک د موخي په محدوده کي دی. تمه کیږي چي هیواد ته دننه د بهرنیو مرستو د جریان په راتلو سره به، اوسنی حساب د ناخالصه کورني تولید د ۳،۴ سلنه مازاد سره په ۱۳۹۶ کال کي هم باقي پاته شي. په صادراتو او وارداتو کي د تمه کیدونکي زیاتوالي سره، سوداګریز بیلانس به د کورني ناخالص تولید په ۳۳ سلنه محدوده کي وي. د سوداګری د بیلانس کسر د نړیوالو مرستو په مټ تمویلیږي.

**جدي خطرونه منځ مهاله لیدلوری تر شعاع لاندي لري**

نامطلوبه جدي خطرونه د افغانستان د لوی اقتصاد چارچوکاټ تر خپلي شعاع لاندي راولي. دغه خطرونه لاندي عوامل له ځانه سره لري: (الف) د بهرنیو مرستو یودم کمښت چي د مالي ټیکاو د ضعف لامل ګرځیدلی او د دولت د لګښتونو به برخه کي یي سخت تعدیلات راوستي دي؛ (ب) د امنیتي وضعیت خرابوالی چي د اعتماد د چاپیریال د خرابوالي او د اقتصادي ودي د پڅتوب لامل ګرځیدلی؛ (ج) د سیاسي بي ثباتي زیاتوالی چي پر امنیتي وضعیت، د متشبثینو پر اعتماد او بهرني ملاتړ باندي یي سختي اغیزي کړي دي. د حکومتولي د پیاوړتیا، د مدیریت او مالیاتي تګلارو د ښه والي او د خصوصي سکتور د ودي لپاره د مساعد چاپیریال د رامنځته کولو لپاره پرله پسي هلي ځلي د اوږدمهال ثبات له لاري شوني ده. د اړتیا وړ بهرنیو مرستو سمبالتیا، د ساختاري اصلاحاتو په بریالي تطبیق پوري اړه لري چي د «افغانستان د سولي او پراختیا د ملي چارچوکاټ» تر چتر لاندي د دولت له لوري یي ژمنه شوي ده.

**په اوږدمهال کي د اقتصادي ټیکاو لپاره جوړښتي بدلونونه اړین دي**

په کلنی توګه د ۳ سلنه وګرنیزي ودي ته په کتو او هر کال د کار بازار ته د ۴۰۰ زره کاري ځواک په راتلو سره، ستري اقتصادي ودي ته اړتیا ده تر څو سړي سر عاید ښه والی ومومي او د مخ پر زیاتیدونکي کاري ځواک لپاره مناسب کاري فرصتونه رامنځته شي. دولت باید د اقتصادي ودي لپاره نوي سرچیني ولټوي تر څو کورني عواید پورته یوسي، په داسي حال کي چي په اوږد مهال کي ښایي له افغانستان سره د بهرنیو مرستو کچه د نورو هیوادونو په توګه معمولي کچي ته را ټیټه شي او باید داسي اسعاري سرچینو ته لاسرسی ومومي تر څو وکولای شي د افغانستان واردات تمویل کړای شي. هان د مناسبو عایداتي تګلارو په تر لاس لاندي نیولو سره او د مالیاتي اداري سیستم په ښه والي سره، د عوایدو تر ټولو لوړي کچي ته چي افغانستان کولای شي هغه ته ورسیږي د ناخالصه کورني تولید شاوخوا ۱۷ سلنه ده، چي د هغه یوازینی علت هم د یوه غیرمتنوع او متمرکز اقتصاد او په معیشتي کرهني پوري شدیده وابستګي ده.

هان د دغي کچي په عوایدو سره افغانستان بیا هم نشي کولای پیش بیني شوي لګښتونه پوره کړای شي. د څه ناڅه بشري سرچینو، د زیربناګانو شدید کمښت او کمزورو ادارو په پام کي نیولو سره په لنډمهال کي د جوړښتي بدلون لپاره فرصت محدودي. خو په منځ مهال کي، پر بشري ځواک باندي پانګه اچوونه او د کرهنیز مولدیت ښه والی کولای شي د اقتصادي ودي او کارمیندني په برخه کي د پام وړ مرسته وکړي. داستخراجي (کاني) صنایعو پراختیا د کورنیو عوایدو د رامنځته کولو او د بهرنیو اسعارو د تر لاسه کولو لپاره ښه فرصت دی او کولای شي د بهرنیو مرستو ځای ناستی وګرځي.

# ج. لومړی ځانګړي برخه: څرنګه کولای شو اقتصادي خوځښت په داسي شرایطو کي چي مالي سرچيني محدودي وي رامنځته کړو؟

افغانستان مالي ټيکاو ته د لاسرسي په برخه کي له ننګوونو ډکي راتلونکي سره مخ ده. اوږدمهاله مالي ليدلورى سخت مايوسوونکى ښکاري، لکه څرنګه چي د نړيوال بانک د کارکوونکو وروستى ارزونه ښيي، چي افغان دولت به هان د اقتصادي ودي په يوي غوري سناريو کي (د افغانستان د اوږدمهاله اقتصادي ودي په اړه پر خوشبينانه فرضيو باندي ولاړ) د دي جوګه و نه ګرځي تر څو د خپلو عامه لګښتونو اړتياووي پرته له پريمانه بهرنيو مرستو څخه تر راتلونکو ۱۵ کلونو پوري پوره کاندي. لکه څرنګه چي د افغانستان د اقتصادي راپور په مخکنى ګڼه (د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر مياشت) کي راغلي و، ټولټال عامه لګښتونه به تر ۲۰۳۰ زيږديز (۱۴۰۹ ه ش) کال پوري کم تر کمه د دولت د عوايدو دوه برابره ته ورسيږي، په داسي حال کي چي د کورنيو او بهرنيو پورونو لپاره به امکانات محدود پاته وي. هان د اقتصادي ودي په غوره سناريو کي – چي هغه به هم د استخراجي صنايعو د پراختيا له مخي وي، د کانونو د را ايستلو څخه د عوايدو تر لاسه کول، د امنيتي وضعيت د ښه والي په تعقيب په پوځي لګښتونو کي کمښت، او د پيسو د سپما په خاطر د پراخو اصلاحاتو په پلي کولو سره، - بيا هم وړاندويني د دي ښکارندويي کوي چي کورني عوايد به تر ۲۰۳۰ زيږديز کال پوري د کورنيو ناخالصو توليداتو تر ۱۹ سلني پوري لوړ شي، او مالي خلا به يوازي د کورني ناخالص توليد تر ۱۲ سلني پوري را ټيټ شي (۱۶ شکل ته مراجعه وکړئ).

**۱۳ شکل: د «غوره ودي» د سناريو له مخي وړاندويني: کورني عوايد، لګښتونه او د بوديجي کسر**
(د ناخالصه توليدي عوايدو د فيصدي له مخي)




سرچينه: د نړيوال بانک د کارکوونکو وړاندويني

افغانستان لا همداشان په دي وروستيو کلونو کي د اقتصادي ودي له پخوالي سره لاس او ګريوان دى. په ۱۳۹۰ کال کي د نړيوال ايتلاف د پوځي ځواکونو د وتلو په پيليدو سره او بيا په ۱۳۹۳ (۲۰۱۴ز) کي د افغانستان دولتي ځواکونو ته د امنيتي مسووليتونو د ليږد د بهير په بشپړيدو سره، اقتصادي ودي خپل نزولي تګلورى ونيو. داسي چي له ۱۳۸۲ نه تر ۱۳۹۱ کلونو په موده کي د اقتصادي ودي منځنى کچه ۹,۴ سلنه وه خو د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۵ کلونو په موده کي دا شميره ۲,۱ سلني ته را ټيټه شو. د امنيتي وضعيت او سياسي ټيکاو په خرابيدو سره د متشبثينو او مستهلکينو د اعتماد په اغيزمنيدو سره، کورنى غوښتنه راټيټه شوه چي دا بيا په خپله د اقتصادي ودي د پڅتوب او د بيکارى د کچي د زياتوالي لامل وګرځيد.

په داسي يوه وضعيت کي، اقتصادي سياست حکم کوي تر څو دولت «اقتصادي خوځښت» رامنځته کړي تر څو داخلي تقاضا يا غوښتنه بيا پورته ولاړه شي. دا کار په اصل کي د عامه لګښتونو د زياتوالي يا د ماليتاو په راکمولو تر سره کيږي. خو دغه کار د افغانستان په اوسنيو شرايطو کي شونى نه ده. محدود مالي چاپيريال او په افغانستان کي مالي ټيکاو لپاره زياتو فشارونو

ته په کتو سره، د اقتصادي خوځښت اقداماتو تر لاس لاندي نیول په هیڅ صورت د تطبیق وړ نه ده. له همدي کبله، هغه معضله چي افغانستان او نور زیات کم عاید لرونکي هیوادونه ورسره لاس او ګریوان دي هغه دا ده چي څرنګه کولای شو په داسي حال کي چي مالي سرچیني فوق العاده محدودي وي او یا هم مالي اوسنی وضعیت پایداره نه وي، اقتصادي خوځښت رامنځته کړو. ښکاره خبره ده چي په داسي حالت کي، د لګښتونو د کچي زیاتوالی ناشونی کار دی. خو بیا هم، حکومت کولای شي د عامه لګښتونو په «ترکیب» باندي تمرکز وکړي تر څو د لاندنیو ګامونو له لاري ورته موخو ته ځان ورسوي:

الف. د فوق العاده مهمو لګښتي اړتیاوو لپاره د مالي سرچینو اولویت بندي.

ب. د دولتي لګښتونو د اغیزمنتیا زیاتوالی پر هغو سکتورونو د لګښتونو متمرکز کول چي کولای شي پر اقتصادي ودي باندي زیاته اغیزه ولري.

ج. د بودیجي د سیما لپاره د دولتي لګښتونو د کارنده توب لوړول.

په دغه ځانګړي برخه کي به په دي اړه بحث وکړو چي دولت څرنګه کولای شي د لګښتونو اغیزمنتوب پورته یوسو. د دولتي لګښتونو اولویت بندي ته نه یوازي دا چي د بیلابیلو اقتصادي سکتورنو باندي د سرچینو ستراتیژیک تخصیص په توګه کتل کیږي، بلکي د مالي توحید د پروګرام د یوه عنصر په توګه په منځ مهال کي د مالي ټیکاو د پیاوړتیا په توګه په نظر کي نیول کیږي. تر ټولو مهم اصل دا ده تر څو پوه شو چي کوم لګښتونه پر اقتصادي ودي باندي د لړ جانبي اغیزو په لرلو سره کولای شو را ټیټ کړو، او کوم لګښتونه د اقتصادي ودي مطلوبو پایلو ته د رسیدو لپاره زیات کړو.

**۱٤ شکل: د عامه لګښتونو ترکیب، د COFOG د عملیاتي ډلبندي له مخي**
(سلنه)




**سرچینه:** د نړیوال بانک د کارکوونکو محاسبه

یو له هغو وسایلو څخه چي کولای شي موږ سره د عامه لګښتونو د اولویت بندي په برخه کي او یا پر اقتصادي ودي باندي د لګښتونو د اغیز د زیاتولو په برخه کي مرسته وکړي هغه د عملیاتي لګښتونو د ډلبندیو لپاره **مالي زیاتیدونکی ضریب (Fiscal Multiplier)** ارزونه ده. د عملیاتي لګښتونو د هر یوي ډلبندیو لپاره د مالي زیاتیدونکي ضریب په اندازي باندي پوهیدل له حکومت سره مرسته کوي تر څو پوه شي چي په کومو سکتورونو کي د عامه لګښتونو اقتصادي اغیز لوړ دی. حکومت کولای شي دغه معلومات د لګښتونو د اولویت بندي په وخت کي او یا هم د مالي توحید د منځ مهاله پرورګرام د جوړولو په مهال – د هغو مالي محدودیتونو په رڼا کي چي ورسره مخ دی – تر نظر لاندي ونیسي.

## زیاتیدونکی مالي ضریب څه شی دی؟

مالي زیاتیدونکی ضریب ښیي چي اقتصادي وده یا خصوصي اقتصادي فعالیتونه په کومه اندازه وروسته له هغه چي دولت په لنډمهاله توګه خپل تدارکات یا انتقالات زیات کړي، پر مخ ځي. پر توکو او خدماتو باندي د یوه ډالر لګول کولای شي په اقتصاد کي د اضافي فعالیتونو د رامنځته کولو له لاري له یوه ډالر څخه زیات ارزښت رامنځته کړي، ځکه چي د هغه یوه ډالر یوه برخه بیرته د هغو کسانو له خوا لګول کیږي چي له لومړني خرچ څخه برخمن شوي دي. په دي بهیر کي اصلي عنصر دا ده چي د کورنیو زره کیږي تر څو کله چي عاید یي ډیریږي، دهغو یوه برخه پر اضافي مصرف باندي لګوي. نو له همدي کبله د تر لاسه شوي عاید حاصل چي پر اضافي مصرف باندي لګول کیږي هغه د «مصرف ته وروستی میل» (Marginal Propensity) په نوم یادیږي.

کله چي یو اقتصاد له ورو ودي سره مخ وي، نو د دولتي لګښتونو د کچي زیاتوالی د خصوصي سکتور د کمیدونکي پانګي اچووني ځخه د رامنځته شوي خلاء (تشیال) او د خلکو د پیرودلو د وړتیا د کمولو په له منځه وړلو کي مهم رول لوبوي. دا شان د عامه مصرف پروګرام – که چیرته په سهي وخت او په سمه توګه سره عملي شي، او که چیرته یي اندازه کافي وي – نو بیا کولای شي اقتصادي فعالیتونه او تقاضا په خوځښت راولي، او په همدي ترتیب کولای شي په اقتصاد کي د اشتغال د له منځه تلو مخنیوی وکړي او د اقتصادي غوړیدا لپاره زمینه برابره کړي.

په همدي ترتیب، کله چي یو اقتصاد په ناپایداره مالي تګلوري کي قرار ولري، نو بنایي مالي توحید یا مالي ریاضت هلته اړین واوسي. کولای شو مالي ریاضت په ټولو لګښتونو کي د کمښت له لاري او یا هم په ځینو مشخصو سکتورونو کي یي رامنځته کړو. همداشان کولای شو مالي ریاضت له یوه سکتور ځخه بل سکتور ته د بیاځلي تخصیص یا هم د مالیاتو په ډیرولو سره او یا هم د دواړو په یو ځای کولو سره رامنځته کړو. مالي ریاضت یوازي هغه مهال ډیر ښه تماميږي، چي پر اقتصادي ودي باندي ډیره کمه جانبي اغیزه ولري او یا هم په هغه صورت کي چي مخ پر وده مصرفي اړتیاووي په اولویت کي قرار ولري او یا هم په هغه صورت کي چي له کمو سرچینو ځخه د اغیزمني ګټي اخیستني لامل وګرځي. د زماني مالي ریاضتونو په اړه کولای شو په سمه توګه قضاوت وکړو تر ځو د اقتصادي ودي لامل وګرځي او یا هم لږ تر لږه د عمومي غوښتني د زیات کمښت لامل و نه ګرځي. له همدي کبله، د مالي ریاضت د پروګرامونو د اندازي، وخت او ځانګړتیاوو په اړه د هوښیارانه تصامیمو د نیولو په اړه، د «عملیاتي مالي زیاتیدونکو ضرایبو» (یعني د لګښتي عملیاتي ډلبندیو لپاره د مالي زیاتیدونکي ضریب په اړه د سهي پوهي لرل له کلیدي او مهمو امرونو ځخه شمیرل کیږي.

### په کم عاید لرونکو هیوادونو کي د مالي زیاتیدونکي ضریب اندازه

له یوه هیواده بل هیواد ته د مالي زیاتیدونکي ضریب اټکل یا براورد ډیر زیات تفاوت لري، او دا په بشپړه توګه روښانه خبره ده چي یو واحد او ثابت ضریب هیڅ وجود نه لري. په عمومي توګه د ضریب اندازه په بیلابیلو عواملو پوري تړلي ده، لکه اقتصادي جوړښت، د مالي سیاست د بدلون مهال او ماهیت (بسط یا انقباض)، د مالي بدلون ځرنګوالی (په لګښتونو یا عوایدو کي بدلون)، د دولت د پورونو کچه، لګښت او په اقتصاد کي وارداتو ته میل لرل، پولي او مالي بیلابیل شرایط، د مبادلي د بیي رژیم او د کارول شوي اقتصادي سنجوونکي وسیلي دول.

**۱۵ شکل: په یو شمیر هیوادونو کي د مالي زیاتیدونکي ضریب اندازه (سلنه)**




Source: Asea (۲۰۱٦)

په کم عاید لرونکو هیوادونو کي، د مالي زیاتیدونکي ضریب د اندازي په اړه په لنډه مهال کي اټکلونه د ۰,۲۵ نه تر ۰,۷۰ محدودي پوري وي، او تولټال په منځ مهال کي له ۰,۵ نه تر ۰,۹ پوري وي. همداشان، ځیرنو ښوولي ده چي مالي زیاتیدونکي ضرایب په هغو هیوادونو کي ډیر زیات ضعیف وي، کوم چي په زیاته کچه پوروړی وي، عاید یي کم ي، د مبادلي بیه یي ازاده او بدلون منونکي وي او پرانیستی اقتصاد ولري.

### د افغانستان لپاره د مالي زیاتیدونکو ضرایبو اټکل

د افغانستان اقتصاد زیاتي ځانګرني لري، چي تر یوه بریده پوري د مالي زیاتیدونکي ضریب اټکل هم پیچلی کوي. د افغانستان اقتصاد د رسمي او غیررسمي فعالیتونو، ناقانونه کرهنیزو محصولاتو، له جګړي سره د تړلو لګښتونو او له مرستو سره د تړلي اقتصاد یوه ګډوله ده. دا ټولي ناخوالي د ۳۰ کلونو پر له پسي جګړو له کبله دي چي د دولت د وړتیا د راټیټیدو، له بهرنیو مرستو سره په تړل کیدو او د خصوصي سکتور د شاته پاته کیدو لامل ګرځیدلی. سربیره پر دي، احصائیوي ستونزي د همدي ننګوونو اندازه کول او د هغو ارقام او امارو ته لاسرسی ځو چنده کړی دی.

هغه وروستی ځیرنه چي د نړیوال بانک له خوا تر سره شوي په هغي کي هڅه شوي تر ځو پر همدغو ننګونو باندي برلاسه واوسي. دغي ځیرني د نړی د ۳۴ هیوادونو له ۱۹۸۴ نه تر ۲۰۱۳ کلونو پوري ارقام را ټول کړي دي. پایلو ښودلي ده چي په افغانستان کي د دولت د لګښتونو تولټال ضریب ۰,۷۸ ده، په دي معنی چي د ناخالصه کورني تولید د ۱ سلني معادل په دولتي لګښتونو کي زیاتوالی د اقتصادي ودي د ۰,۷۸ سلني لامل ګرځي. د نورو کم عاید لرونکو هیوادونو سره په پرتله (۱۸

شکل ته مراجعه وکړئ)، په افغانستان کي مالي زياتيدونکي ضريب ډير لوړ دی؛ د کم عايد لرونکو هيوادونو لپاره مالي منځيني زياتيدونکی ضريب ۰،۶۹ دی. په افغانستان کي د همدي ضريب د نسبتاً زيات لوړتوب يو ممکنه دليل د امنيتي (دفاع او عامه نظم) د لګښتونو ستره ونډه ده، چي مثبت ضريب لري (۱۹ جدول ته مراجعه وکړئ). په افغانستان کي امنيتي لګښتونه په استثنايي توګه په نړۍ کي يو له ډيرو لوړو پوځي لګښتونو (د ناخالصه کورني توليد د فيصدي له مخي) څخه دی.

**۱۶ شکل: په افغانستان کي د عملياتي ډلبنديو د لګښتونو لپاره مالي زياتيدونکي ضرايب**
(سلنه)




Source: Asea (۲۰۱٦)

په افغانستان کي دلګښتونو «عملياتي» ډلبنديو لپاره مالي زياتيدونکي ضرايب ډير زيات توپير لري (۲۱ شکل ته مراجعه وکړئ). د ټولنيز خونديتوب لګښتونه د ۱،۸۲ ارزښت په لرلو سره تر ټولو ستر زياتيدونکی ضريب دی. دا په دي معنی ده چي پر ټولنيزو پالنو باندي دولتي لګښتونه پر اقتصادي ودي باندي انبساطي اغيزه لري. په يوه داسي هيواد کي چي له محدودو مالي سرچينو سره مخ وي نو لګښتونه بايد د لومړيتوب له مخي تر سره شي، د ټولنيزو چارو لګښتونه – بايد د امکان په صورت کي – زيات کړل شي. په هر حال، ټولنيزي مرستي بايد په سمه توګه سره پر بيوزلو باندي وويشل شي تر څو وکولای شي د بيوزلی کچه راټيټه کړي.

ښوونه او روزنه (۱،۴۸) او ورپسي روغتيا (۱،۲۰) هغه دوه نور لګښتونه دي چي ستر مالي زياتيدونکی ضريب لري. د ټولنيز خونديتوب د لګښتونو د ضريب سره، د همدي دولتي لګښتونو د دريو ډلو د ضريب اندازه ښيي چي د ټولنيز خونديتوب پروګرامونه (د بيلګي په توګه د نغدي پيسو ليږدول) کولای شي د بيوزلی پر کمولو او اقتصادي ودي باندي زياته اغيزه ولري. دغه پايله له ځينو نظري اقتصادي څيړنو سره په مطابقت کي ده چي د هغو د موندنو له مخي چي «هدفمنده ليږدوني» کولای شي پر اقتصادي ودي باندي انبساطي اغيزه ولري. په بيلابيلو هيوادونو کي د نغدي پيسو د ليږدراليږد له پروګرامونو څخه تر سره شوي څيړني ښيي چي دا ډول پروګرامونه د کورنيو په اقتصادي فعاليتونو کي پانګونه زياتوي او د هغوی په ټولنيزه پانګه کي زياتوالی راولي.

کليدي پيغام دا ده چي د روغتيا او ښووني او روزني په برخه کي پانګه اچوونه او د نغدي پيسو د ليږد پروګرامونه په لنډمهال او اوږدمهال کي – د بشري پانګي د ښه والي له لاري - د اقتصادي ګټو د رامنځته کيدو لامل ګرځي، چي دا هم په خپل نوبت سره د کاري ځواک د زياتي کار اخيستني او کارميندني لامل ګرځي.

د تعجب ځای نه ده چي په پوځي برخه کي لګښتونه په افغانستان کي د ناخالص کورني توليد پر حقيقي ودي باندي (۰،۷۱) مثبت ضريب اغيزه لري، لکه څرنګه چي په زياتره نورو هيوادونو کي هم همداسي ده. په افغانستان کي د پوځ او پوليسو د سرتيرو شمير ته په کتو سره، پوځي لګښتونه بالاخره د معاشونو د ورکړي او په هيواد کي دننه د توليداتو او خدماتو په تدارک سره پورته ځي.

په پای کي، د اقتصادي چارو د لګښتونو زياتيدونکی ضريب چي په هغو کي د زيربناګانو، انرژۍ او کرهني لګښتونه هم شامل دي، منفي (۱،۱۱-) ده. په حقيقت کي، د زيربنا په برخه کي د مصارفاتو د اغيزمندي لپاره اصلي عامل، همغه د همدي مصارفاتو «**اغيزمنتوب**» ده. د مصارفاتو يا لګښتونو اغيزمنتوب په دي معنی ده چي لګښتونه تر کومه اندازي پوري په واقعيت سره د هغي زيربنا د جوړو لامل ګرځي چي له هغي څخه د عامه خدماتو د وړاندي کيدو کار اخيستل کيږي. که څه هم د شميرو (امارو) شواهد ښيي چي په زيربنا باندي لګښتونه او د هغو له خوا وړاندي کيدونکي خدمات ډير ضعيف دي، په تيره بيا په مخ پر وده هيوادونو کي. اصولاً، دلته دوه عامله يا دليله دي. لومړی دا چي ضعيفه تخنيکي وړتيا د ضعيفو پروژو د انتخاب لامل ګرځي، د پروژو لګښتونه سم نه اټکل کيږي يا نه بوديجه بندي کيږي، د پروژو تطبيق ځنډول کيږي، او په ټوله کي د پروژو د ضعيف مديريت لامل ګرځي. دا ټول عوامل تر هر څه زيات پر زياتو زيربنايي لګښتونو باندي صدق کوي نه پر نورو لګښتونو باندي. دويم دا چي مالي ضعيف مديريت، د تدارکاتو ضعيف ميتودونه، سياسي پلوي او اداري فساد په حقيقت کي د عامه زيربناګانو د لګښتونو پر اغيزمنتوب باندي اغيزه کوي. دا دواړه انديښني د افغانستان په اړه سمي دي، لکه څرنګه چي په نورو ډيرو مخ پر وده هيوادونو کي هم دا موضوع صدق کوي. اداري فساد، چي په افغانستان کي يوه له ځانګړو انديښنو څخه ده، په شديده توګه يي د هري زيربنايي پروژي د لګښتونو په ډيرولو کي خپل اغيز لرلی، چي په مقابل کي د زيربنا يا خدماتو د ټيټ کيفيت لامل ګرځيدلی.

په افغانستان کې د زیربینایي پروژو لپاره د را واردیدونکو توکو کچه هم په غیر معمول بنې سره ډیره لوړه ده. د زیربینایي پروژو لپاره نړدې ټول د اړتیا وړ توکي او مواد وارداتي دي. په دې معنی چې په زیربناګانو باندې هره یوه لګیدلي افغانی، د وارداتو د زیاتوالي لامل شوی، چې په مقابل کې دا کار کولای شي پر کورنیو غوښتنو باندې د عامه بالقوه لګښتونو د مثبتي اغیزي د خنثی کیدو لامل وګرځي. له همدې کبله او د همدې حقایقو په رڼا کې، د تعجب ځای نه دی چې د اقتصادي چارو زیاتیدونکی ضریب، چې زیربینا پکې ستره برخه جوړوي، په افغانستان کې منفي دی.

د یادولو وړ ده چې مالي ضریبونه له وخت سره سم بدلون مومي. کله چې د دولت لګښتونه د پام وړ بدلون مومي، نو دا ضریبونه هم ثابت نه پاته کیږي او بدلون مومي. د بیلګې په توګه، کله چې د امنیتي چارو لګښتونه د امنیتي وضعیت په خرابیدو سره زیاتوالی مومي، نو د ضریب اندازه هم لوړیږي.

### څه باید وکړو تر څو مالي زیاتیدونکی ضریب لوړ یوسو؟

اوس بیرته ورګرځو هغه اصلي پوښتني ته چې د دې بحث په پیل کې مو کړې و: دولت څرنګه کولای شي په داسې حال کې چې مالي سرچینې هم محدودې وي، اقتصادي خوځښت رامنځته کړي؟ دا پوښتنه کیدای شي په دوو برخو وویشل شي. لومړی برخه یې د هغو اقداماتو په اړه ده کوم چې باید اقتصادي خوځښت حداکثر ته ورسوي – چې دا هم په افغانستان کې د ضریب د اندازې په اړه پوښتنې پورې تړاو لري. او د دې پوښتنې دویمه برخه په دې اړه ده چې باید کوم اقدامات تر لاس لاندې ونیول شي تر څو د سرچینو د محدودیت ستونزه را ټیټه شي.

#### الف. د مالي زیاتیدونکي ضریب د اندازې زیاتوالی

په عمومي توګه، د مالي زیاتیدونکي ضریب اندازه په لاندینیو عواملو پورې تړلې ده:

- د نه کارول شوي اقتصادي وړتیا مقدار، د کارول شوي پانګې او کاري ځواک د کچې په ګډون (هر څومره چې له زیاتي اقتصادي وړتیا څخه ګټه واخیستله شي، د ضریب اندازه هم ورسره ډیریږي).
- مصرف کولو ته د خلکو او تشبثاتو میل (هر څومره چې عاید بیاځلي ولګول شي په همغه اندازه د ضریب د اندازې تاثیر هم لوړیږي).
- د مصارفو وارداتي پایله (هر څومره چې مصارف د وارداتو د ډیروالي لامل وګرځي، هغومره د مالي ضریب اغیز کم وي، ځکه هغه پیسې چې د توکو او اجناسو د تورید لپاره لګول کیږي، هغه یوازې یو ځل پر اقتصاد باندې اغیزه لري).
- د پیسو د لګولو چټکوالی (هغه پروژې چې اوږدې پلان جوړوونې ته اړتیا لري تر څو مصارف یې پیل شي، هغه هومره په اقتصاد کې خوځښت نه لري).

د نړیوال بانک څیړنو موندلې چې په حقیقت کې، د لږ عاید لرونکو هیوادونو دوه ځانګړنې د دې لامل ګرځي تر څو د هغوی دولتي لګښتونه د اقتصادي ودې لامل شي، چې هغه عبارت دي له: (۱) **د جذب وړتیا** او (ب) **د بازار رقابتي اوسیدل** په تیره بیا په ودانیزو او بانکي چارو کې. دغې څیړنې همداشان موندلې چې، د جذب په وړتیا کې د یوه واحد په اندازه بدلون، د مالي زیاتیدونکي ضریب اندازه تر ۱۸ سلنې پورې لوړوي. همداشان، د بازار په رقابت کې د یوه واحد په اندازه بدلون، د ضریب اندازه تر ۱۴ سلنې پورې لوړوي.

د مالي سرچینو (کورنیو او بهرنیو) په تشخیص، جذب او اغیزمنې کاروونې کې د حکومت وړتیا ته د جذب وړتیا وایي. دلته اصلي موضوع، په دولتي سکتور کې د مدیریت د نویو میتودونو دودول او له ماهر کاري ځواک څخه کار اخیستل دي. اقتصادي وده په حقیقت کې د ماهرو کارګرانو، متخصصو مدیرانو، تخنیکي پرسونل او ملکي مامورینو په شتون پورې تړلې ده. په دولت کې د بشري ځواک د اړتیا وړ مهارتونو نشتوالی کولای شي د ګټورو پانګو اچوونو مقدار محدود کړي. له همدې کبله، د جذب وړتیا، په هیواد کې د بشري، فزیکي او معلوماتي پانګې د پراختیا، رهبرۍ او مدیریت په برخه کې د حکومت پټې وړتیا په توګه – د دولت د تګلارو د تصامیمو د ترسره کیدو په منظور – بلل کیږي.

هغه دولتونه چې د لوړ جذب وړتیا لري هغوی د تګلارو د تدوین لپاره پیاوړې وړتیاووې او ماهر تکنوکراتان لري. دا ځانګړنې کولای شي دولتونه پیاوړي کړي تر څو له مالي سرچینو څخه د عامه ملموسو پانګه اچوونو لپاره په سمه او اغیزمنه توګه سره ګټه واخلي. په مقابل کې، هغه دولتونه چې د جذب ټیټه وړتیا لري، عامه اغیزمنو پانګو اچوونو ته د مالي سرچینو په انتقال او لګولو کې بې وسه وي.

د بازار رقابتي اوسیدل، یو بل ستر فکتور دی. په کم عاید لرونکو هیوادونو کې د بشپړ رقابت لپاره شرایط زیاتره له امکان څخه لرې خبره وي. په همدې خاطر، دا ډول هیوادونه له رقابت څخه د ممکنه پرله پسې ګټې اخیستنې وړتیا نه لري – لکه د توکو ټیټې بیې، د محصولاتو غوره کیفیت، د کاري فرصتونو رامنځته کیدل او چټکه اقتصادي وده. په ورته وخت کې، د بازار د ازادولو لپاره د مقرراتو له منځه وړل تل د مستهلکینو لپاره ګټور نه وي. د بیلګې په توګه، د زیاترو کم عاید لرونکو

هیوادونو تجربو ښودلي چي په بازار او اړینو ادارو کي د رقابت د تنظیم لپاره د قوانینو او مقرراتو نشتوالی، د مستهلکینو سوکالي د سوداګری او پانګي اچووني په ازادولو او خصوصي کیدو سره ښه والی نه مومي.

په افغانستان کي وروستي پرمختګونه دا موضوع لا ډیره روښانوي. د «ایشیا فونډیشن» له خوا د تر سره شوي د «افغانانو د سروي» د پایلو له مخي، د افغانستان خلک په زیاتیدونکي توګه ټولي اقتصادي ستونزي د دولت له لوري د ازاد بازار په پیروي یا د دولت له لوري د ازاد بازار لپاره د اړینو شرایطو په نه برابریدو پوري تړي. په داسي حال کي چي، په تګلارو کي اصلاحات د ملي یووالي د حکومت په لومړیتوبونو کي دي، خو بیا هم د ازاد بازار له نظام څخه د کارمیندني د رامنځته کیدو او په مناسبي بیي سره د کیفیت لرونکو توکو د لرلو لوري هیلي شته. سربیره پردي، د یوي بلي سروي پایلي چي د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په میاشت کي د افغانستان د امریکایي پوهنتون له لوري تر سره شوي، ښیي چي د سروي ۷۸ سلنه ګډونوال په دي اند دي چي خصوصي سکتور د کاري فرصتونو په رامنځته کیدو کي ناکام دی او د خصوصي کیدو او ازادي سوداګری بهیر په هیواد کي د وړو تشبثاتو د فعالیتونو د رکود لامل ګرځیدلی دی، په داسي حال کي چي دا بهیر د څو سترو او سیاسي اړیکو لرونکو شرکتونو په ګټه پای ته رسیدلی دی.

بازارونه په افغانستان کي په کافي اندازه رقابتي نه دي. د کاروبار د شاخصونو (Doing Business Indicators) د رپوټ له مخي، افغانستان په ۲۰۱۵ کال کي د پانګي اچووني لپاره د مقرراتو د کیفیت او اغیزمنتوب له اړخه په ۱۷۷ ځای کي ولاړ و، چي په دغه شاخص کي په دغه کال کي هیڅ ښه والی نه و راغلی. همداشان، په ۲۰۱۶ کال کي د تیرو دریو یا څلورو کلونو په پرتله د نویو تشبثاتو د ثبت شمیر بیا هم ډیر ټیټ دی، چي دا په خپله په افغانستان کي د یوه تشبث د جوړولو یا په لاره اچولو په وړاندي د خنډونو بیانوونکی دی.

په افغانستان کي ودانیز سکتور، عامه ملموسو پانګه اچوونو ته له نغدي پانګي څخه د دولتي لګښتونو د انتقال په برخه کي یو له مهمو لوبغاړو څخه دی. ودانیز سکتور د سړکونو، اوسپني پټلیو، پلونو، د اوبو د بندونو، هوایي ډګرونو او مسکوني سیمو په جوړولو کي رول لري، چي دا ټولي زیربناوي د یوه عصري اقتصاد لپاره اړین ګڼل کیږي. د مهمو زیربنا ګانو د جوړولو سربیره، ودانیز صنعت د کاري زمینو د رامنځته کیدو لامل هم ګرځي، ځکه چي د همدي سکتور زیاتره فعالیتونه په کاري ځواک پوري تړلي دي. سره له دي هم، که چیرته ودانیز سکتور رقابتي و نه اوسي او یوازي د څو سترو نړیوالو او ځینو وړو کورنیو شرکتونو له خوا په واک کي نیول شوی وي، په هغه صورت کي به د دولتي لګښتونو اغیز په ملي کچه هومره ملمس و نه اوسي او په سیمه ایز اقتصاد کي به یي نښي نښاني هیڅ د لیدلو او لمس وړ و نه اوسي.

همدا منطق په بانکي سکتور کي هم صدق کوي. د بانکي چارو په سکتور کي رقابت د ځینو دلایلو له مخي توپیر لري. لکه د نورو سکټورونو په شان، په بانکي چارو کي رقابت – د مالي خدمتونو د اغیزمنتوب، د مالي محصولاتو د کیفیت او په دغه سکتور کي د نوښت د کچي په خاطر – ډیر مهم دی.

مالي بازارونه د رقابت د لوري کچي په لوري په حرکت کي دي. ډیجیټال ټکنالوژي د بانکي سکټور ځینو فرعي بازارونو ته د ورننوتونکو خنډونه پر را کمولو اغیزه کړي ده، لکه د موبایل له لاري د پیسو ورکړه او له هیواد څخه بهر د پیسو لیږدول. ډیجیټال ټکنالوژي د معاملو وروستی لګښت راټیټ کړی دی، واټن او موقعیت یي په ډیریدونکي توګه سره کم اهمیت کړی ده، د مشتري د پلټني لګښت یي را کم کړی دی او معلوماتو ته لاسرسی یي ډیر کړی ده. د لړ عاید لرونکو هیوادونو اړتیاوو ته د ځواب ویلو په برخه کي یو رقابتي بانکي سکټور د بالقوه ورتیاوو لرونکی دی.

سره له دي هم، په مالي بازارونو کي د رقابت د هڅووني او دودوني په برخه کي باید له لړ احتیاط څخه کار واخلو. نه یوازي دا چي د رقابت تر منځ زیاتره دغه اړیکي او مبادلات، د مالي سیستم کارکړنه، پور ته لاسرسی، ټیکاو او بالاخره اقتصادي وده د تیوري له نظره پیچلي دي، بلکي په مالي سکټور کي د رقابت په اړه ازمایښتي شواهد کمیابه دي او تر یوه بریده پوري د هغوی شتون یا ورته لاسرسی (تر اوسه پوري) روښانه نه دی. په هر حال، څه شی چي له تیوري او سوداګری څخه استنباط کیږي هغه دا ده چي د موضوع په پیچل کیدو سره، نشو کولای د رقابت تجزیه او تحلیل یوازي په یوه نري لید لوري یا پر یوه ډول اغیزي باندي په تمرکز لرلو تر سره کړو.

دلته ډیره اړینه ده تر څو رقابت د مقاصدو د یوي لویي مجموعي په توګه، د مالي سکټور د موثریت، د بیلابیلو برخو د کاروونکو لپاره مالي خدمتونو ته د لاسرسي، د مالي سکټور سیستماتیک ټیکاو او د همدغو موخو تر منځ ممکنه مبادلاتو لپاره په نظر کي ولرو . او له کومه ځایه څخه چي رقابت له څو عواملو سره تړاو لري، نو باید په مالي سکټور کي د رقابت د ډیروالي لپاره د تګلاري له ټولو وسیلو څخه ګټه پورته کړو.

### (i) د جذب د وړتیا ډیرول

تګلاري د عامه پانګي اچووني په کارنده توب او د جذب د وړتیا د زیاتوالي په ډیریدو او پر اقتصادي ودي باندي له اغیزي مرسته کوي، چي له همدي لاري کولای شو مالي ډیرونکی ضریب هم پورته یوسو. لکه څنګه چي مخکي یادوونه وشوه، د جذب د وړتیا مفهوم، د حکومت د مامورینو هغو انفرادي اقداماتو او فعالیتونو ته ویل کیږي کوم چي په بیلابیلو علمي او سیاسي محدود کي فعالیت لري، چي د اړوند ادارو یا وزارتونو د چارواکو د تصامیمو او ځانګړو سرچینو له لوري تنظیمیږي. د جذب

د وړتیا د ډېرولو لپاره تګلارې باید په دوو اړخونو کې موجود وي: هم باید د حکومت مامورین په انفرادي توګه تر هدف لاندې ونیسي او هم باید د دولت تګلارې تر هدف لاندې ولري.

د افغانستان د عامه سکتور په ادارو کې د جذب د وړتیا د زیاتوالي لپاره تګلارې، لاندې موارد له ځانه سره لري:

- د ماهرو ملکي مامورینو لپاره د لیاقت او وړتیا له مخې د معاشونو ورکړه او د مکافاتو ورکړه.
- د تګلارو د تدوین او تطبیق په برخه کې ماهرو ملکي مامورینو ته د زیات مسوولیت او صلاحیت ورکړه.
- د پروژو د غوره کارکړنې او ځانګړو په اړه ځواب ویني ته په ادارو کې زیات انعطاف منني ته اجازه ورکول.
- د بودیجې د منځ مهال پیاوړي چارچوکاټ د رامنځته کولو لپاره د غوره روزنیزو او ډېرو اړوند زمینو برابرول.
- د پروژو د ارزونې او د بودیجې د دوران د بهیر د ساده کولو له لارې د عامه پانګه اچوونو د مدیریت ښه والی.
- د پروژو د تطبیق په درشل او له هغه وروسته د پروژې د دقیقې ارزونې په برخه کې د غوره زده کړې د زمینې برابرول.

### (ii) د ودانیزو او بانکي چارو په سکټورونو کې د رقابت ښه والی

لکه څرنګه چې مخکې یادوونه وشوه، د ودانیزو چارو او بانکي چارو په سکټورونو کې د رقابتي بازارونو دودول، پر اقتصادي بانديو د عامه لګښتونو د اغېز د لوړولو لپاره ډېر مهم دی. د رقابتي بازارونو د رامنځته کولو تګلارې به د دولتي لګښتونو په وړاندې د خصوصي سکټور غبرګون زیات کړي او په همدې ترتیب سره به د مالي ډېریدونکي ضریب اندازه لوړه شي. په دې برخه کې باید اخیستل کېدونکي ګامونه او تګلارې هم رقابت او هم د تدارکاتو ډول تر هدف لاندې ونیسي، چې د لاندنیو مواردو درلودونکې به وي:

- د رقابت د قانون او د رقابت د ملي اداري د دندو او صلاحیتونو ښه والی او پیاوړتیا.
- د حقوقي کړنلارو ساده کول او د مالي کاري مرستو وړاندې کول تر څو په بازار کې د کارمیندني په برخه کې د وړو او منځنیو ودانیزو شرکتونو د ورتلو زمینه برابره شي.
- مالیاتي سکتور ته د نویو تشبثاتو د ورتلو د اسانتیا په خاطر د حقوقي کړنلارو ساده کول.

له پورته یادو شویو تګلارو څخه موخه د بازارونو د کارنده توب نه د ډاډمنتیا تر لاسه کول، د بیو را ټیټول، بازار ته د ورتلو لپاره د وړو او منځنیو تشبثاتو جوګه کول، او د اشتغال رامنځته کول دي. د همدغو اصلاحاتو له پلي کولو څخه اصلي موخه دا ده تر څو دولتي بودیجه په خورا اغیزمنه او رښه بڼه او په ورته وخت کې په هر اړخیزي حساب ورکووني سره وکارول شي، تر څو په دې ترتیب سره د لګول شویو پیسو ارزښت پورته یوړل شي. سربیره پر دې، ځېړنې ښيي چې د تدارکاتو رقابتي او رڼې پروسې د کیفیت لرونکو او ارزانه توکو او خدمتونو د تر لاسه کولو په برخه کې له اساسي شرطونو څخه ګڼل کېږي. همداشان، اړینه ده تر څو داسي ګامونه واخلو تر څو وکولای شو د هغو له لارې رونتوب پورته یوسو او تدارکات په اغیزمنه توګه تر سره شي.

### ب. د سرچینو د محدودیت کموالی

دلته د پوښتنې دویمې برخې ته چې د دې برخې په پیل کې مطرح شوی و، ورګرځو. پوښتنه دا وه چې دولت څرنګه کولای شي په داسي شرایطو کې چې مالي سرچینې محدودې وي، اقتصادي خوځښت رامنځته کړي؟ یو له هغو لارو څخه چې کولای شو د مالي سرچینو د محدودیت پر ننګووني باندې لاسبرې شو دا ده چې باید مالي چاپیریال کې زیاتوالی راولو. اصلن، مالي چاپیریال له دریو برخو څخه جوړیږي: د دولت عواید، کورنی مالي سرچینې (یعني کورنې پورونه) او بهرنی سرچینې (مالي بلاعوضه مرستې او بهرنې پورونه). همداشان، په دې منځ کې هغه سرچینې چې د عامه لګښتونو د غوره او اغیزمنې اجراء په ترڅ کې تر لاسه کیږي، هم شاملیږي.

لاندنې ګامونه کولای شي په لړ عاید لرونکو هیوادونو کې کورنی مالي سرچینې زیاتې کړي:

- د مالي خدمتونو د طیف پراختیا (د بیوزلو کورنیو لپاره مناسب د بانکي (بنسټیزو) حسابونو جوړول)؛
- د بانکي چارو په سکتور کې د رقابت زیاتوالی او د زیات عاید لرونکو کورنیو د پس اندازونو د جذب لپاره د مالي محصولاتو او خدماتو ښه والی او د کډوال شویو کارګرانو د پیسو د رالیږلو اسانه کول؛
- په برېښنایي بڼه د پیسو د ورکړې د سیستم د کاروني اسانه کول لکه د ګرځنده تلیفونونو له لارې د پیسو لیږد، د هغو کسانو تر پوښښ لاندې راوستل کوم چې بانکي حساب نه لري او د بانکي چارو د پوښښ پراختیا؛

- د مالي او بانکي چارو د خدمتونو په اړه د بیوزلو کورنیو د لیک لوست او معلوماتو زیاتول؛
- د بانکي چارو په رسمي نظام باندي د اعتماد د رامنځته کولو لپاره د بانکي چارو او مالي سیستم اړوند قوانینو پیاوړي کول؛

لاندني ګامونه به د مالي پس اندازونو په زیاتوالي کي د کورنیو سرچینو د انسجام د یوي وسیلي په توګه مرسته وکړي، چي په نوبت سره د دولتي لګښتونو د تمویل لپاره کاریدلای شي:

- د صکوکو د پور ورکووني د اوراقو د بازار پیژندنه ( د صدور په کړنلارو کي اصلاحات، د صکوکو د پانو معیاري کول، د منځګړتوب د چارو د کارپوهانو روزنه)؛
- د بودیجي په جوړولو کي د سیمه ایزو چارواکو شاملول (ځکه چي په دي سره سیمه ایزو ټولنو ته د عامه خدمتونو وړاندي کول نږدي کیږي او په عامه لګښتونو کي به سپما هم رامنځته شي)؛
- د بودیجي په جوړولو کي د اصلاحاتو راوستل تر څو پر حکومت د خلکو اعتماد زیاتوالی ومومي؛

**نتیجه ګیري**

له اقتصادي رکود سره په یوه وخت کي، افغانستان د خپل اقتصاد د خوزښت لپاره له یوي ستونزمني موضوع – او په ورته وخت کي د خپل مالي وضعیت د لا زیات تضعیف له مخنیوي- سره مخاخ و. مالي چاپیریال سخت محدود و او په دولتي لګښتونو کي زیاتوالی یا په مالیاتو کي تقلیل له یوه سره ناشونی کار و. له همدي کبله، حکوم اړ و تر څو داسي نوښتونه تر لاس لاندي ونیسي، چي موخه یي پر اقتصادي ودي باندي د مالي لګښتونو د اغیز زیاتوالی وي. لومړی، داسي تګلاري چي دولت د غیرسوداګریزو توکو د پیرودلو په اړه چي د کورنیو تولید کوونکو له خوا جوړیږي، باید وهڅول شي، چي دا کار په خپله د کورني تولیداتو د ودي لامل ګرځي نه د وارداتو د زیاتوالي باعث. که چیرته بازارونه په کافي اندازه سره رقابتي وي، نو د تدارکاتو په بهیر کي کورنیو تولید کوونکو ته لومړیتوب ورکول د بیو د لوړیدو یا د خلکو د سوکالی د زیانمنیدو لامل نه ګرځي. دویم، په دولت کي د «جذب د وړتیا» لوړول د دي لامل ګرځي تر څو د عامه پانګي اچووني د پیسو ارزښت، کیفیت او د تطبیق چټکوالی زیاتوالی ومومي. دریيم، داسي تګلاري چي د بانکي او ودانیزو چارو په سکتور کي د رقابتي بازارونو د پراختیا لامل ګرځي او بیا دا په خپله په دواړو سکتورونو کي د زیات شمیر وړو او منځنیو شرکتونو د رامنځته کیدو لامل ګرځي. د بانکي چارو په سکتور کي به نوي شرکتونه نوښتګرانه مالي محصولات بازار ته وړاندي کړي چي د دي سکتور د پیاړتیا لامل به شي. په ودانیز سکتور کي، چي زیاتره د کار په ځواک پوري تړلی دی، نوي شرکتونه به داشتغال د فرصتونو په رامنځته کولو کي مرسته وکړي. څلورم، د داسي تګلارو جوړول کوم چي د مالي چاپیریال د زیاتوالي لامل ګرځي او هغه عبارت له یو لړ هغو اقداماتو څخه دي چي د کورنیو سرچینو د انسجام په برخه کي او همداشان له موجوده مالي سرچینو څخه د اغیزمني کاروونی په برخه کي دي، چي له همدي سرچینو څخه اغیزمنه ګټه اخیستنه بالاخره د زیات شمیر سرچینو د رامنځته کیدو لامل ګرځي.

# د. دویمه ځانګړې برخه: په ۱۳۹۵ کال کې د بیرته راستنیدونکو او بې ځایه شویو د خوځښت ډول: د بیلابیلو شمیریزو سرچینو له مخې تحلیل

اوس مهال په افغانستان کې هیڅ داسې یو سیستم نشته تر څو وکولای شو د هغه له لارې د کډوالۍ جریانونه په تیره بیا بیځایه شوې وګړې په خپل وخت سره تعقیب کړو. دا کار په خپل ذات کې د لویې ننګوونې لامل ګرځیدلی تر څو د همدغو اجباري بیځایه شویو وګړو په اړه بشرپاله او پرمختیایي پروګرامونه طرحه او ویې کاروو. د غیرمسجل (بې اسنادو) بیرته راستنیدونکو، مسجل راستنیدونکو او کورنې بیځایه شویو وګړو په اړه دریو نړیوالو بشرپالو ادارو – د کډوالۍ نړیواله اداري (IOM)، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمیسیارۍ (UNHCR) او د بشرپالو مرستو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UNOCHA)- د افغانستان په پولو، د پیسو د ورکړې په مرکزونو او یا هم د بې ځایه شویو وګړو په سیمو کې معلومات را ټول کړي دي. دغو دریو نړیوالو ادارو د دې تر څنګ چې د بیرته راستنیدونکو او بې ځایه شویو په اړه یې معلومات را ټول کړي دي، خو بیا هم د دقیقو معلوماتو له کمښت سره مخ دي: (الف) د بیرته راستنیدونکې د ریښتیني مقصد ثبت (د بیرته راستنیدونکې د نیت خلاف)، (ب) د ټولنې په کچه فشارونه (د بیځایه شویو وګړو د کوربه توب له مخې)، (ج) په هدف باندې د بشرپاله مرستو د لګولو یا دوباره لاربښوونې په اړه د ټولنې اړتیاووې په ګوته کول او همداشان د هغوی لپاره د مناسبو پرمختیایي لاروچارو طرح او تطبیق. له بیرته راستنیدونکو څخه ځارنه سیستماتیکه بڼه نه لري او په دې برخه کې موجودې هلې ځلې له اوسنیو شرایطو سره په مطابقت کې هومره اسانه نه دي.

### د امار او ارقامو سرچینې

په ۱۳۹۵ کال کې د بیځایه شویو او بیرته راستنیدونکو وګړو د ډلبندۍ لومړنۍ ارزونه د IOM ، UNHCR او OCHA له خوا د را ټولو شویو معلوماتو له مخې تر سره شوې ده. د همدغو ادارو معلوماتي ډیټابیزونه د همدغو ډلو په اړه تر ټولو دقیقه شمیره ښیي (د ماخذ کال: د ۲۰۱۶ کال له جنورۍ تر ډیسمبر میاشت پورې). دغه د معلوماتو ډیټابیزونه په ګډه سره وړاندیز کوي چې همدا ۱,۵ میلیونه وګړې په دریو ډلبندیو ویشل شوې دي: (الف) غیرمسجل بیرته راستنیدونکې چې د پورتنۍ شمیرې ۳۱ سلنه جوړوي، (ب) مسجل بیر راستنیدونکې چې د پورتنۍ شمیرې ۲۵ سلنه جوړوي او (ج) کورنې بیځایه شوې وګړې چې په افغانستان کې د ټولټال بیځایه شویو وګړو ۴۴ سلنه جوړوي.

که څه هم د IOM او UNHCR له لورو د بیرته راستنیدونکو د شمیر په اړه معلومات په لاس کې شته، خو د دغو ادارو معلوماتي ډیټابیز یوازې د بیرته راستنیدونکو د «عزیمت» په اړه معلومات په اختیار کې لري نه د هغوی د اوسیدو د اصلي ځای په اړه. د بیځایه شویو وګړو د ډلبندۍ د لاښې پیژندنې په خاطر، اړتیا ده تر څو دغه شمیرې له نورو معلوماتي سرچینو سره په مطابقت کې تصدیق کړل شي. خو سره له دې هم، نورې معلوماتي سرچینې په لاس کې نشته او که د لاسرسي وړ هم واوسي یوازې د هیواد ځینې محدودې سیمې تر پوښښ لاندې لري. د بیلګې په توګه، د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره، د هیواد له ۳۴ ولایتونو څخه یوازې د ۳۱ ولایتونو په اړه معلومات را ټول کړي دي.[1] د (IOM) د دفتر د بیځایه شویو د تعقیب د ماټریکس سیستم (DTM) چې په خپله د همدې دفتر له لورې ترتیب شوی دی، د ننګرهار، کنړ او لغمان په ولایتونو کې یې د کړکیچ په حالاتو کې د وګړو بې ځایه کیدل تعقیب او څارلی دی.

### هغه څه چې تر اوسه پرې پوهیږو

#### *ټولټال بیځایه شوې وګړې*

تر ټولو مهمه خبره چې باید پرې تمرکز وشي هغه دا ده چې په سرحدي ځایونو او هغو مرکزونو کې چې بیرته راستنیدونکو ته پیسې ورکول کیږي، زیاتره یې هلته خپل د تګ مقصد بیانوي، نه هغه ځای چې دوی به له هغه ځایه بیا هلته ولاړ شي. د (UNHCR) یوه وروستۍ ریپوټ موندنې چې له بیرته راستنیدونکو سره یې په بیلابیلو وختونو کې د مصاحبو له مخې تر لاسه کړې ښیي چې د راستنیدونکو د تګ د ځای او د هغوی د ریښتینې تګ د ځای په اړه د پام وړ توپیر وجود لري.[2]

---

[1] د IOM دفتر په پلان کې لري تر څو د DTM سیستم په راتلونکو دریو میاشتو کې د هیواد په شپږو ولایتونو (بغلان، بلخ، کابل، کندوز، پکتیا او تخار) کې رامنځته کړي.
[2] (UNHCR) «افغانستان ته بیراتګ: له ننګوونو ډک کال»، د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ میاشت.

**۳ جدول: د بیځایه شویو وګړو له اړخه لس غوره ولایتونه (راستنیدونکي او داخلي بیځایه شوي)، د ۱۳۹۵ کال د معلوماتي سرچینو له مخي**

| ولایتونه | د IOM غیر مسجل راستنیدونکي | د UNHCR غیر مسجل راستنیدونکي | د OCHA غیر مسجل راستنیدونکي | تولټال بیځایه شوي وګړي | د کوربه وګړو پر وړاندي د بیځایه شویو نسبت | د تولو بیځایه ونشویو پر وړاندي د بي ځایه شویو نسبت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ننګرهار | ۲۹۹،٦۹٤ | ۱۱٥،٥۲۸ | ۳۳،۷۷۱ | ٤٤۸،۹۹۳ | ۲۹,۱ | ۳۰,٤ |
| کابل | ۲٦،۱۷٥ | ۸۱،۰۹۲ | ۱٥،٥۰٤ | ۱۲۲،۷۷۱ | ۲,۷ | ۸,۳ |
| کندوز | ٦،٤٥٦ | ۲٥،٥۲٦ | ٦۳،٤۲۰ | ۹٥،٤۰۲ | ۹,۹ | ٦,٥ |
| تخار | ۷۸۷ | ۲،۷۸۳ | ۸٥،۳۰۷ | ۸۸،۸۷۷ | ۸,۹ | ٦,۰ |
| بغلان | ٥،٥۱۲ | ۲۸،۰۳٥ | ۳۸،٥٤۹ | ۷۲،۰۹٦ | ۷,۸ | ٤,۹ |
| هلمند | ۱،٥۷۲ | ۱،٦۳٤ | ٦۸،۷٤۳ | ۷۱،۹٤۹ | ۸,۰ | ٤,۹ |
| کندهار | ۱٥،۰۰٦ | ٥،٥۹۱ | ٥۰،٥٤۸ | ۷۱،۱٤٥ | ٦,۰ | ٤,۸ |
| روزګان | ۲۷٥ | ۱٥۸ | ٥۷،۰۰۷ | ٥۷،٤٤۰ | ۱٦,۷ | ۳,۹ |
| فراه | ۱۳٦ | ۱٥٤ | ٥۱،۳۸۰ | ٥۱،٦۷۰ | ۱۰,۰ | ۳,٥ |
| لغمان | ۲۰،۸۸۷ | ۲٤،٦٤۹ | ۱،٥۹۹ | ٤۷،۱۳٥ | ۱۰,٦ | ۳,۲ |
| تولټال | ٤٦۲،۸۱۰ | ۳۷۲،٥۷٤ | ٦٤۳،٤٤۲ | ۱،٤۷۸،۸۲٦ | | |

۳ شمیره جدول همداشان د کوربه سیمو د وګړو د ونډي له مخي د بیځایه شویو د ځای پر ځای کیدو د مقیاس ښودونکی ده.

د بیځایه شویو وګړو ستر جریان د کوربه تولنو په پرتله د دي لامل ګرځیدلی تر څو همدا کوربه تولني چي له پخوا څخه یي په سختو اقتصادي شرایطو کي ژوند کاوه، له نویو ننګوونو سره مخامخ کړي. د اوس مهال لپاره، ننګرهار د بیځایه شویو وګړو ستر بار په اوږو وړي، چي د هغوی شمیر د کوربه تولنو په تناسب، د هغوی ۳۰ سلنه جوړوي.[3] په روزګان ولایت کي تولټال بیځایه شوي وګړي د دي ولایت د وګړو ۱۷ سلنه جوړوي په داسي حال کي چي دا شمیره د لغمان، فراه او کندوز په ولایتونو کي ۱۰ سلنه ده.

بیرته راستنیدونکي او داخلي بیځایه شوي وګړي له متفاوته جغرافیایي بیلګو څخه پیروي کوي او په ځینو مشخص شمیر ولسوالیو کي تیت او پرک دي. ۱ نقشه د افغانستان په هره ولسوالی کي (کینه نقشه) د تولو بیځایه شوی کسانو شمیر ښیي او (ښی نقشه) کي بیا یوازي دافغانستان ختیځ ولایتونه ښودل شوي دي. له ورایه ښکاري چي بیځایه شوي وګړي غواړي چي د افغانستان سویل، شمال او ختیځ خوا ته ولاړ شي.

**۱نقشه: د ولسوالیو له مخي بیځایه شوي وګړي (بیرته راستنیدونکي او بیځایه شوي)، د ۱۳۹۵ کال**

افغانستان




د افغانستان ختیځ




سرچینه: نړیوال بانک، د ۲۰۱٦ کال د جنوري نه تر دیسامبر میاشت پوري د IOM, UNHCR, OCHA د معلوماتو له مخي

د دي لپاره چي د بشردوستانه نړیوالو موسسو له خوا د را تولو شویو معلوماتو په اړه دقیقه اندازه ګیري وشي، نو کولای شو چي دغه معلومات د سیمه ارګانونو د خپلواکي اداري د هر ولایت په کچه له معلوماتو او د (IOM-DTM) له معلوماتو سره یي له دریو زاویو څخه وګورو او پرتله یي کړو. د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکي اداري معلومات یوازي د هیواد د ۳۱ ولایتونو په اړه معلومات لري، چي په هغه کي بلخ، هرات او پنجشیر نه دي شامل. دا ۳۱ ولایتونه هم له هغو ولایتونو څخه دي چي ۹٦ سلنه وګړي

[3] په ۲۰۱٦ او ۲۰۱۷ کلونو کي د افغانستان د وګړو د رسمي شمیر په اړه اټکل د مرکزي احصائیي د اداري له معلوماتو څخه اخیستل شوي دي.

يي د نړيوالو مرستندويو ادارو مرستي ور جلب کړي دي. د يادوني وړ ده چي د سيه ايزو ارګانونو د خپلواکي اداري او د نړيوالو مرستندويو ادارو د معلوماتو له مخي د ټولو بيځايه شويو وګړو شمير تقريباً سره ورته دی، داسي چي ۱,۴ ميليون وګړي بيځايه شوي (بيرته راستنيدونکي او داخلي بيځايه شوي) تشکيلوي (۲۰ شکل ته مراجعه وکړئ). که څه هم، لاندي په دي اړه په جزئياتو سره بحث شوی دی، خو بيا هم، د بيرته راستنيدونکو يا داخلي بيځايه شويو وګړو ډلبندي يا ويشنه د تمرکز لاندي وګړو د وندي په توګه، توپير لري. د دي دوو مشخصو مواردو د ښکاره توپيرونو په اړه لاندني توضيحات د پاملرني وړ دي: (الف) په سيمه کي د اداري چاپلنو له لاري د بيرته راستنيدونکو او بي ځايه شويو تر منځ د توپير ستونزمنتوب؛ (ب) دا چي ښايي ځيني نوي راستنيدونکي وګړي افغانستان ته په راتلو سره بيرته له خپلو سيمو څخه بي ځايه شوي وي.

**شکل: په ولايتونو کي د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي اداري او د نړيوالو مرستندويو ادارو د شميرو پرتله**




سرچينه: د بيرته راستنيدونکو او داخلي بيځايه شويو وګړو په اړه د IOM, IDLG, UNHCR, OCHA د شميرو له مخي د نړيوال بانک د کارکوونکو محاسبه، د ۲۰۱۶ کال له جنوري تر ډيسامبره.

د ولايتونو په کچه د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي اداري د شميرو ياده شوي ډلبندي وړانديز کوي چي ۷ غوره ولايتونه په ترتيب سره په لاندي ډول دي: کندوز (زياتره داخلي بيځايه شوي وګړي)، ننګرهار (زياتره بيرته راستنيدونکي)، کابل (زياتره بيرته راستنيدونکي)، تخار، فارياب، روزګان او هلمند. د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي اداري د معلوماتو له مخي دا اووه ولايتونه په يوازي سر د ټولو بيځايه شويو ۷۰ سلنه وګړو کوربه دي.

### *بيرته راستنيدونکي*

د (IOM) او (UNHCR) له دفترونو څخه د (مسجل او غير مسجل) بيرته راستنيدونکو په اړه تر لاسه شوي شميري ښيي چي د زياتره بيرته راستنيدونکو د تګ مقصد د افغانستان ختيځ ولايتونه وو. شاوخوا ۵۰ سلنه بيرته را ستنيدونکو غوښت چي ننګرهار ته ولاړ شي، ۱۲ سلنه کابل ته تلل، ۶ سلنه لغمان او ۵ سلنه کنړ ته تلل (**دويمه نقشه**). د ولايتونو په منځ کي، بيرته را ستنيدونکو ښاري او نيمه ښاري سيمو کي ژوند کولو ته ترجيح ورکوله او زياترو يي د ولسوالی مرکزونو يا د ولسوالی شاوخوا سيمو کي ژوند کولو ته تصميم درلود.

د نړيوالو بشر پالو ادارو (IOM، UNHCR او UNOCHA) له خوا توحيد شوي معلومات د ټولټال بيځايه شويو وګړو په اړه نږدي ورته شميري وړاندي کوي. خو بيا هم، تر تمرکز لاندي وګړو له مخي د بيرته راستنيدونکو ډلبندي د هيواد د ولايتونو په کچه د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي اداري د ډيتابيز له معلوماتو سره سم، توپير لري (۲۰ شکل ته مراجعه وکړئ). د همدي ډيتابيز د معلوماتو له مخي، د ټولټال بيځايه شويو وګړو ۳۵ سلنه يي بيرته راستنيدونکي وګړي تشکيلوي ( يعني څه کم ۵۰۰۰۰۰)، په داسي حال کي چي د نړيوالو مرستندويه ادارو شميري بيا هغه ۵۸ سلنه ښيي (يعني څه باندي ۸۲۰۰۰۰ بيرته راستنيدونکي). د ولايتونو لپاره د سيمه ايزو ارګانونو د خپلواکي اداري د معلوماتو دغه ډلبندي وړانديز کوي چي شپږ غوره ولايتونه هر يوه په ترتيب عبارت دي له: ننګرهار، کابل، هلمند، بغلان، لغمان او کندوز. چي له دي ډلي څخه څلور ولايتونه (ننګرهار، کابل، لغمان او بغلان) د بيلابيلو نړيوالو مرستندويه ادارو له تر ټولو ډيرو مرسته تر لاسه کوونکو ولايتونو څخه شميرل کيږي. دغه ولايتونه د ټولټال بيرته راستنيدونکو څه باندي ۸۰ سلنه وګړو کوربه دي.

**۲ نقشه: په ۱۳۹۵ کال کې د ولسوالیو له مخې بېځایه شوي وګړي (بیرته راستنیدونکي او کورني بې ځایه شوي وګړي)**

د افغانستان ختیځ | افغانستان







سرچینه: د بیرته راستنیدونکو او بېځایه شویو وګړو په اړه د ۲۰۱۶ کال د جنوري نه تر ډیسمبر میاشت پورې د بانک، **IOM**، **UNHCR** او **OCHA** د کارکوونکو محاسبه.

د شمیرو او ارقامو د پرتلې یوه له سرچینه، د (IOM) د دفتر د بېځایه شویو د ځای پر ځای والي تعقیبي ماتریکس دی، چې د اوس مهال لپاره یوازې په دریو ختیځو ولایتونو لکه ننګرهار، لغمان او کنړ کې د لاسرسي وړ دی. د ولایتونو په کچه، یوازې د ننګرهار په ولایت کې د بیرته راستنیدونکو کسانو د شمیر په اړه د (IOM-DTM) او د ملګرو ملتونو د دفترونو د شمیرو تر منځ ستر توپیر وجود لري، که څه هم د هغوی تر منځ د بېځایه شویو وګړو شمیر تر یوه بریده پورې ورته دی. د (IOM-DTM) ارقام ښیي چې په ننګرهار کې د ټولټال بیرته راستنیدونکو وګړو شمیر ۲۷۶۲۷۵ دي، په داسې حال کې چې د بیرته راستنیدونکو په اړه د (IOM) او (UNHCR) شمیره ۴۱۵۲۲۲ کسه دي.

| ولایت | د IOM او د UNHCR بیرته راستنیدونکو شمیر | د DTM د بیرته راستنیدونکو شمیر |
|---|---|---|
| ننګرهار | ٤١٥،٢٢٢ | ٢٧٦،٢٧٥ |
| لغمان | ٤٥،٥٣٦ | ٣٦،٠٩٢ |
| کنړ | ٣٧،٢٧٣ | ٣٨،٧٦٣ |

### *کورني بېځایه شوي وګړي (IDPs)*

د نړیوالو بشردوستانه موسسو د سرچینو له خوا د وړاندې شویو معلوماتو له مخې، د کورنیو بې ځایه شویو وګړو جغرافیایي ځانګړنې (پروفایل) ډېر غیر منظم دی او د بیرته راستنیدونکو سره په پرتله له بېلابېلو نمونو (الګوګانو) څخه پیروي کوي. د UN-OCHA د معلوماتو له مخې، د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې او په هرو دریو ولسوالیو کې په یوه کې یې بې ځای شوي کورني وګړي شته. د بېځایه شویو وګړو زیات شمیر د هیواد په شمال او سویل کې دي (دریمي نقشې ته مراجعه وکړئ). کورني بېځایه شوي وګړي په ولایت کې کوچېدلو ته زړه لري او په همدې ترتیب، زیاتره کورني بېځایه شوي وګړي د ولایتونو په مرکزونو کې ځای پر ځای کېږي. تخار ولایت په هیواد کې د (۸۵۰۰۰) بې ځایه شویو وګړو په درلودلو سره لومړی ځای لري، وروسته هلمند د (۶۹۰۰۰) وګړو، کندوز د (۶۳۰۰۰) وګړو، روزګان د (۵۷۰۰۰) وګړو، فراه د (۵۱۰۰۰) وګړو او کندهار هم د (۵۱۰۰۰) داخلي بېځایه شویو وګړو کوربه دی. بېځایه شوي وګړي غواړي تر څو تر ټولو نږدې امن ځای ته ولاړ شي، داسې ځای چې بیا هلته هغوی وکولای شي د ټولنیزو شبکو پر جوړولو لاس پورې کړي او له همدې کبله هغوی د ولایت یا ولسوالۍ مرکز غوره کوي. په یوه ولایت کې داخلي بېځایه شوي وګړي د هغه ولایت د نیمایي وګړو څخه بانډې ۹۰ سلنه برخه جوړوي، په داسې حال کې چې دا شمیره د ولسوالۍ په دننه کې له ۹۰ سلنې څخه زیات یعنې د هغې ولسوالۍ د وګړو یو پر دریمه برخه جوړوي.[٤] کورني بېځایه شوي وګړي هڅه کوي تر څو د ولایتونو په مرکزونو کې ځای پر ځای شي؛ بې ځایه شویو وګړو د ځای پر ځایوالي له اړخه په شپږو زیاتره بېځایه شویو وګړو لرونکو ولایتونو کې، د یادو ولایتونو مرکزونه د هغو سیمو په لړ کې راځي چې هلته زیاتره بېځایه شوي وګړي پکې ځای پر ځای شوي دي.

[٤] د ناکراریو له کبله د کورني بېځایه شویو وګړو سربېره، نږدې ۷۰۰۰۰ وګړي په ۲۰۱۶ کال کې د طبیعي افتونو له کبله د خپلو اصلي سیمو څخه کوچېدلي دي (دغه شمیره د OCHA د دفتر له خوا را ټول شوي دي).

**۳یمه نقشه: کورني بېځایه شوي وګړي، په ۱۳۹۵ کال کې پر ولسوالیو کې د ځای پر ځای والي له مخې**

د افغانستان ختیځ | افغانستان




سرچینه: نړیوال بانک، د کورني بېځایه شویو وګړو په اړه د **UN-OCHA** له خوا د وړاندې شویو معلوماتو له مخې چې د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر تر میاشت پورې د کورنیو جګړو له کبله بېځایه شوي دي.

د ولایتونو په کچه د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکي اداري د ډیټابیز ارقام ښیي چې په هیواد کې دننه د بې ځایه شویو وګړو ویشنه د تر تمرکز لاندې وګړو په توګه، د نړیوالو بشردوستانه اداري له سرچینو سره په پرتله ټوپیر لري. د ولایتونو په کچه د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکي اداري د ډیټابیز د معلوماتو له مخې، ۶۵ سلنه ټولټال بېځایه شوي وګړي، داخلي وګړي او کورنۍ دي. دا په داسي حال کې ده چې، بشردوستانه ادارو د هغوی په اړه ۴۳ سلنه رپوټ ورکړی دی. د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکي اداراي ارقام او امار ښيي چې نږدې ۹۲۰۰۰۰ داخلي بې ځایه شوي وګړي وجود لري، خو له بلي خوا بیا د بشردوستانه مرستو تر سره کوونکي اداري بیا د داخلي بې ځایه شویو وګړو شمیر ۶۰۶۰۰۰ وګړي ښیي. دا ډول د امارو او ارقامو توپیر، لکه څرنګه چې مخکي یې یادوونه وشوه، ښایي د لاندې دلایلو له مخې شوي وي: (الف) په سیمه کې د اداري بیلابیلو سرچینو له مخې د بې ځایه شویو وګړو او بیرته راستنیدونکو تر منځ د توپیر ستونزمنتوب؛ (ب) د ولسوالیو په پرتله د ولایت په مرکز کې د معلوماتو د کچې توپیر؛ (ج) ښایي ځیني بیرته راستنیدونکي کسان کله چې افغانستان ته راغلي وي بیرته له خپلو اصلي مینو څخه بې ځایه شوي وي.

د کډوالی د نړیوال سازمان (IOM) د (DTM) له ارقامو سره د بشردوستانه نړیوالو ادارو د شمیرو څخه د تر لاسه شویو پایلو د پرتلي په مهال داسي ښکاري چې د کورني بې ځایه شویو کسانو د شمیر په اړه ډیر ستر توپیر وجود لري، چې باید هر څه ډیر په دي اړه باندي ځیرنه وشي. د بیلګي په توګه، د (DTM) له خوا په ننګرهار کې د داخلي بېځایه شویو خلکو شمیر ۱۸۲۱۶۲ کسه ښودل شوي، په داسي حال کې چې د (OCHA) اداري بیا هلته د بې ځای شوي داخلي کسانو شمیر ۳۳۷۷۱ کسه ښودلی. د ولسوالی په کچه د معلوماتو نه په ګټي اخیستني سره، بیا هم د (IOM-DTM) اداره تصدیق کوي چې بېځایه شوي داخلي وګړي د ولسوالی په مراکزو او شاوخوا سیمو کې ځای پر ځای شوي دي او په هر ولایت کې د ولسوالیو ډلبندي په مناسبه توګه سره سازګاره ده.

| ولایت | د OCHA له خوا د کورني بېځایه شویو وګړو شمیر | د DTM له خوا د کورني بېځایه شویو وګړو شمیر |
|---|---|---|
| ننګرهار | ۳۳،۷۷۱ | ۱۸۲،۱۶۲ |
| لغمان | ۱،۵۹۹ | ۱۹،۰۷۹ |
| کنړ | ۳،٦٥٦ | ۳۱،٥٦۷ |

## ضمیمه : په افغانستان کي د نړیوال بانک د ګروپ پروګرام

١. په افغانستان کي د نړیوال بانک ګروپ پروګرام د هیوادني ګډون د چارچوکاټ (CPF) له خوا د ١٣٩٦ نه تر ١٣٩٩ مالي کلونو لپاره تدوین شوی دی، چي پر دریو اصلي ستراتیژیکي برخو باندي تمرکز لري: (الف) د پیاوړو او مسوولو ادارو جوړول تر څو د حکومت د دولت جوړوني له موخو سره مرسته وکړي، د بنسټیزو دندو د تر سره کولو لپاره د دولت جوګه کول، له هغي جملي څخه خلکو ته د لومړنیو خدمتونو وړاندي کول او د خصوصي سکټور د پراختیا لپاره د یوه مطلوب چاپیریال رامنځته کول؛ (ب) له پراخي ودي څخه ملاتړ کول، د شاته پاته شویو سیمو او د ماسټر پلان خلاف ښاري اسکان باندي په تمرکز سره او (ج) د بشري پراختیا د اصلاح شویو پایلو له لاري د ټولنیز ګډون ژورتوب او د زیات شمیر هیواد کي دننه بي ځایه شویو خلکو او بیرته راستنیدونکو په ګډون د ټولني د بیوزلو برخو تر منځ د څورمننتیا د کچي راټیټول.

٢. د ٢٠٠٢ کال د اپریل له میاشتي نه را پدیخوا، د نړیوال بانک د نړیوالي پراختیا اداره (IDA) له افغانستان سره د ٣,٤٦ میلیارد امریکایي ډالرو ورکړي ته ژمنه وکړه تر څو پرمختیایي او د بیارغوني پروژو تطبیق او د افغانستان په بودیجه کي پنځه عملیاتي برنامو تمویل کاندي. له همدي ډلي څخه ٣,٠٢ میلیارد امریکایي ډالر یي بلاعوضه مرسته او ٤٣٦,٤ میلیون ډالر یي پرته له سود څخه د پور په بڼه راغلي دي. اوس مهال نړیوال بانک د نړیوالي پرمختیایي اداري شاوخوا ١٥ فعاله پروژي د ١,١ میلیارد امریکایي ډالرو خالصي ژمني سره په افغانستان کي تطبیق کوي. سربیره پر دي، دافغانستان د بیارغوني صندوق (ARTF) له ٣٤ هیوادونو او مرسته کوونکو سازمانونو څخه ٩,٢ میلیارد امریکایي ډالر را ټول کړي دي چي ٤,٢ میلیارد امریکایي ډالر یي د افغان حکومت د عادي بودیجي د لګښتونو او ٤,٤٥ میلیارد امریکایي ډالر یي د حکومت د پانګه اچوني د برنامو لپاره مرسته کړي ده. د ٢٠١٦ کال د سپتمبر له میاشت نه را پدیخوا، د نړیوالي پرمختیایي اداري فعاله ونډه ١,٢٧ میلیارد امریکایي ډالر او د افغانستان د بیارغوني صندوق د پانګي اچوني فعاله ونډه ٣,١ میلیارد امریکایي ډالر دي.

٣. دغه بانک همدا شان، د افغانستان د بیارغوني د وجهي صندوق مدیریت پر غاړه لري – چي د نړیوال بانک ګروپ کي له څو تمویلوونکو څخه د یوه هیواد اړوند تر ټولو ستر ملاتړیز صندوق دی. د افغانستان د بیارغوني صندوق د یوي درى کلني مالي مرستي د ستراتیژۍ له مخي له افغانستان سره مرسته کوي. نړیوال پراختیایي سازمان او د افغانستان د بیارغوني صندوق ټولټال نږدي یو میلیارد امریکایي ډالر د بلاعوضه مرستي په توګه هر کال د افغانستان دولت ته ورکوي (شاوخوا ١٥٠ میلیون امریکایي ډالر د نړیوال پراختیایي سازمان څخه او له ٨٠٠ تر ٩٠٠ میلیون امریکایي ډالرو پوري د افغانستان د بیارغوني د پانګي اچووني له صندوق څخه). د افغانستان د بیارغوني صندوق د بودیجي لپاره د مالي مرستي د را ټولولو لپاره یوه اصلي د وړاندویني وړ او رڼه وسیله ده او د اقتصادي پالیسي په اړه د دولت او تمویلوونکو تر منځ د خبرو اترو لپاره یوه ښه بستر دی.

٤. په ٢٠١٦ مالي کال کي، د نړیوال بانک مدیره هیئت «د هندوکش د غرونو د څمکني نښلووني پروژه» د ٢٥٠ میلیون امریکایي ډالرو په پانګي او د ګمرکي اصلاحاتو او د سوداګری د اسانتیا د دویمي پروژي لپاره د ٢١,٥ میلیون امریکایي ډالرو بودیجي په زیاتوالي سره منظور کړ. د افغانستان د بیارغوني صندوق شپږ نوري پروژي هم تایید کړي دي، چي له هغي ډلي څخه ٨٣ میلیون امریکایي ډالر د نغلو د اوبو د بریښنا د بند د بیارغوني، ۶ میلیون امریکایي ډالر له بریښنا شرکت سره د تخنیکي مرستو لپاره، ٥٠ میلیون امریکایي ډالر د لوړو زده کړو د پراختیا برنامي لپاره، ٤,٩٥ میلیون امریکایي ډالر د څمکو د مدیریت د پروژي د بنه والي لپاره، ٥ میلیون امریکایي ډالر د بریښنایي حکومتولی لپاره (E-Governance) او ٥ میلیون امریکایي ډالر د مالیي له وزارت سره د تخنیکي مرستو د پروژي لپاره. د موجوده پروژو لپاره زیاتي شوي پیسي په لاندي ډول دي: ٤١ میلیون امریکایي ډالر د عامه مالي مدیریت د دویمي پروژي لپاره، ٤٥ میلیون امریکایي ډالر په کرونده کي د اوبو د تنظیم د پروژي لپاره، ٧٠ میلیون امریکایي ډالره د اوبو لګولو د بیارغوني او پراختیا د پروژي لپاره، ٩٠ میلیون امریکایي ډالر د بڼ والي او مالدارۍ د پروژي لپاره، ٥٧ میلیون امریکایي ډالر د ملي پیوستون د دریيمي پروژي لپاره. د ٢٠١٦ مالي کال (د جون د میاشتي تر پایه پوري)، ټولټال ٥٩٣ میلیون امریکایي ډالر د افغانستان د بیارغوني د صندوق د «عادي لګښتونو له کړکی» څخه ورکړل شوي دي.

٥. نړیوال بانک همدا شان خپلو هراړخیزو تحلیلو او مطالعاتو ته ادامه ورکړي او زیات ټینګار یي هم پر پالیسي جوړونکو خبرواترو دی. دغه غیرپور ورکوونکي فعالیتونه د نړیوال بانک د نورو پروګرامونو او پروژو په ملاتړ کي تر سره کیږي او دولت ته د ستراتیژیکو غوراویو د اطلاع رسووني په برخه کي او د افغان دولت او د هغه د نړیوالو شریکانو تر منځ خبرواترو په پر مخ وړلو کي مهم رول لوبولی دی. په تیر مالي کال کي، د افغانستان د بیارغونۍ د وجهي صندوق کمیټي (د مطالعي او تحلیل پروګرام) تایید کړ، چي موخه یي د پالیسي جوړوني او تصمیم نیووني په برخه کي د دولت د اصلاحاتو څخه ملاتړ کول و. دغه پروګرام د پوهي د رامنځته کولو او له دولت، پوهنتونونو او سیمه ایزو څیړنیزو موسسو سره د نوښتګرانه همکاریو د پیژندني په برخه کي ښه فرصت رامنځته کړی دی. نړیوال بانک، تر دي پروګرام لاندي، پر یو لړ تحلیلي کارونو باندي لاس پوري کړی دی تر څو د افغانستان د اقتصادي ودي د ننګوونو او خندونو په اړه د خلکو عامه پوهاوی زیات شي. د همدغو تحلیلونو او مطالعاتو لومړنی پایلي د افغانستان په اړه د بروکسیل په کنفرانس کي چي د ٢٠١٦ کال د اکتوبر په میاشت کي جوړ شوی و، وړاندي شوي.

٦. په افغانستان کي نړیواله مالي اداره (International Finance Corporation) ټولټال پانګه اچوونه له ۲۰۰۸ مالي کال را پديخوا څه باندي دوه برابره ډيره شوي ده – يعني له ۵۸ ميليون امريکايي ډالرو څخه ۱۳۵ ميليون امريکايي ډالرو ته رسيدلي ده. په اوس وخت کي، د نړيوالي مالي اداري ټولټال پانګه اچونه شاوخوا ۵۴ ميليون امريکايي ډالره دي چي په دي کي د (روشن) په مخابراتي شرکت کي پانګه اچوونه، د (TPS) په نوم د هوټل په سکټور کي پانګه اچوونه او دوه پورونو يی په مالي بازارونو کي عملياتونه ځانګړي شوي دي (د وړو پورونو لومړنی بانک او د افغانستان نړيوال بانک). د نړيوالي مالي اداري پانګه اچوني ( مالي سرچينو او پرمختګ ته د لاسرسي له اړخه) په تيره بيا د وړو مالي مرستو او مخابراتو په سکټورونو کي متحول کوونکي اغيزه لرلي ده.

۷. د څو اړخيزه پانګي اچوني د تضمين اداره (Multilateral Investment Guarantee Agency) چي په افغانستان کي ۱۵۴ ميليون امريکايي ډالره ناخالصه پانګه لري، د مخابراتي او کرهنيزو محصولاتو د صنعت په برخه کي مرسته کوي. دغه اداره، په ۲۰۱۳ کال کي، «له جګړي څخه د زيانمن شويو هيوادونو پروګرام» په لاره واچوه چي د همدي اداري پانګه اچوونه په افغانستان کي پياوړي کوي. په اوس وخت کي MIGA په افغانستان کي له دريو پروژو سره مرسته کوي، چي يوه يي له IFC سره په ګډه د مخابراتو په برخه کي (د MTN له مخابراتي اپراتور څخه د ملاتړ) په برخه کي فعاليت کوي. دوه نور عمليات د MIGA اړوند دي چي په هغو کي د لبنياتي محصولاتو او کشميره د محصولاتو پروژي شامليږي.

## د ۱ ضميمي جدول: منتخب اقتصادي شاخصونه

| | ١٣٩ | ١٣٩ | ١٣٩ | ١٣٩٦ | ١٣٩ | ١٣٩ | ١٣٩ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | لومړني اټکلونه | | وړاندې وينې | |
| **د ملي عوايدو کچه** | | | | | | | |
| اسمي ناخالصه کورني توليد (ميليارد افغانی)/١ | ١،١٥١ | ١،٢١٠ | ١،٣٣٨ | ١،٤٦٦ | ١،٦٠٣ | ١،٧٣٦ | ١،٨٨٥ |
| اسمي ناخالصه کورني توليد ( ميليارد امريکايی ډالر)/١ | ٢٠,٠ | ١٩,٧ | ١٩,٧ | ٢١,٢ | ٢٢,٧ | ٢٤,١ | ٢٥,٦ |
| سړي سر عايد (امريکايی ډالر) | ٦٣٣ | ٦٠٦ | ٥٩٠ | ٦١٩ | ٦٥٠ | ٦٧٥ | ٧١٨ |
| وګړي (ميليون کسه) | ٣١,٦ | ٣٢,٥ | ٣٣,٤ | ٣٤,٢ | ٣٤,٩ | ٣٥,٧ | ٣٥,٧ |
| **حقيقي اقتصاد** (د سلنې له مخې وده) | | | | | | | |
| د حقيقي ناخالصه کورني توليد وده ١/ | ١,٣ | ١,١ | ٢,٢ | ٢,٦ | ٣,٤ | ٣,١ | ٣,٦ |
| کرهنه | –٠,١ | –٥,٧ | ٦,٠ | ١,٥ | ٢.٥ | ٢,٠ | ٢,٥ |
| صنعت | ٢,٤ | ٤,٢ | –٠,٨ | ٢,٠ | ٣,٠ | ٢,٥ | ٣,٥ |
| خدمات | ٢,٢ | ١,٦ | ١,٩ | ٣,٣ | ٣,٨ | ٣,٧ | ٤,١ |
| **د ناخالصه کورني توليد جوړښت** (سلنه) | | | | | | | |
| کرهنه | ٢٣,٥ | ٢١,٧ | ٢١,٦ | ٢٠,٧ | ٢٠,٤ | ٢٠,٥ | ٢١,٠ |
| صنعت | ٢٢,٣ | ٢٣,٣ | ٢١,١ | ٢٠,٣ | ٢٠,١ | ١٩,٩ | ٢١,٥ |
| خدمات | ٥٤,٢ | ٥٥,٠ | ٥٢,٢ | ٥٣,٤ | ٥٣.٥ | ٥٣,٦ | ٥٧,٥ |
| **بيې** ( %، د ١٢ مياشتنی سلني بدلون) | | | | | | | |
| د مصرفي توکو د بيو پرسوب (منځنی دوره) | ٤,٦ | –١,٥ | ٤,٤ | ٦,٠ | ٥,٠ | ٥,٠ | ٥,٠ |
| اصلي پرسوب (له تيلو او غله جاتو پرته، زماني اوسط) | ٢,٤ | –١,٣ | ٤,٠ | .. | .. | .. | .. |
| د مصرفي توکو د بيو پرسوب (د دورې پای) | ١,٤ | ٠,٢ | ٤,٦ | .. | .. | .. | .. |
| **بهرنی سکتور** (د ناخالصه کورني توليد % ، مګر که چيرته په بل ډول سره بيان شوي وي) | | | | | | | |
| د توکو صادرات (ميليون امريکايي ډالر) / ٢ | ٧٨٣ | ٦٦٧ | ٧٢٠ | ٧٦٩ | ٨٨٨ | ١،٠٥٩ | ١،٢٦٩ |
| د توکو واردات (ميليون امريکايي ډالر) / ٣ | ٨،٧١١ | ٧،٨٦٧ | ٧،٢٨٤ | ٧،٦٤٨ | ٨،٢٢٢ | ٩،٠٤٤ | ٩،٤٩٧ |
| سوداګريز بېلانس | -٣٩,٦ | -٣٦,٦ | -٣٣,٣ | -٣٢,٥ | -٣٢,٣ | -٣٣,١ | -٣٢,١ |
| خالص جاري انتقالات | ٣٨,٠ | ٣٨,٢ | ٣٩,٠ | ٣٤,٤ | ٣١,٤ | ٢٩,٩ | ٢٨,٣ |
| د جاري حساب بېلانس | ٨,٠ | ٥,٤ | ٤,٤ | ٣,٤ | ١,٠ | -١,٠ | -٢,٧ |
| د ناخالصه پيسو زيرمې (ميليون امريکايي ډالر) | ٧،١٥٨ | ٦،٦٨٢ | ٧،٢٥٥ | ٧،٥٠٠ | ٧،٦٠٠ | ٧،٧٠٠ | ٧،٨٠٠ |
| د ناخالصه پيسو زيرمې (په مياشت کې واردات) | ٩,٩ | ١٠,٢ | ١٢,٠ | ١١,٨ | ١١,١ | ١٠,٢ | ٩,٩ |
| بهرنی پور /٤ | ٦,٥ | ٦,٣ | ٦,٤ | ٦,٤ | ٦,١ | ٥,٩ | ٥,٦ |
| د راکړې ورکړې بيه(افغانی/ امريکايي ډالر، منځنی دوره) | ٥٧,٤ | ٦١,٤ | ٦٧,٩ | .. | .. | .. | .. |
| د راکړې ورکړې بيه (افغانی/ امريکايي ډالر، د دورې پای) | ٥٨,١ | ٦٨,١ | ٦٦,٨ | .. | .. | .. | .. |
| د راکړې ورکړې حقيقي بيه/٥ | ١٠٣,٤ | ٩٨,٥ | ٩٢,٥ | ٩٨,٢ | | | |
| **پولي او مالي شاخصونه** ( ناخالصه کورني توليد%) | | | | | | | |
| پراخي پيسې (M٢) | ٣٥,٠ | ٣٤,٣ | ٣٤,٠ | ٣٤,٤ | ٣٤,٧ | ٣٤,٩ | ٣٥,١ |
| ټولټال امانتي پيسې (سپرده ها) | ١٧,٧ | ١٧,٤ | ١٧,٣ | ١٧,٧ | ١٨,٢ | ١٩,٢ | ٢٠,٠ |
| د ډالري امانتونو ونډه (%) | ٦٦,٠ | ٧١,٥ | ٦٨,٠ | .. | .. | .. | .. |
| خصوصي سکتور ته د پور ورکړه، سوداګريز بانکونه | ٣,٨ | ٣,٩ | ٣,٤ | ٣,٨ | ٤,٣ | ٤,٥ | ٥,٥ |
| د امانتونو په پرتله د پور نسبت (%) | ٢١,٦ | ٢٢,٢ | ١٩,٧ | ٢١,٢ | ٢٣,٩ | ٢٣,٦ | ٢٧,٥ |

يادداښتونه: کلونو د افغانستان د مالي کال له مخې – يعنې از له مرغومې څخه د ليندۍ تر مياشتې پورې (د ميلادي تقويم له مخې) – مطابقت لري.

١/ د ملي محاسباتو ارقام د ترياکو د زيات شوي ارزښت په لرې کولو سره ده. د ملي محاسباتو ارقام چې د احصائيې د مرکزي ادارې له خوا د هجري شمسي کلونو لپاره خپاره شوي دي، د ميلادي کلونو لپاره اټکل شوي دي.

٢/. په هېواد کې د نه مېشت کسانو باندې د توکو د پلور نه پرته. ٣/د غيررسمي سوداګری يا اټکليز قاچاق په ګډون

٤/ د پور معافيت هم پکې شامل ده که څه هم تحقق يې نه وي موندلی؛ د روسيې د فدراسيون له پورونو پرته.

٥/ په شاخص کې کمېښت د حقيقي مبادلو د بيې د ارزښت د کمېښت په مانا ده. چې د افغانستان د ٩ سترو سوداګريزو شريکانو د اسعارو د موزون کڅورې له مخې محاسبه شوي دي: پاکستان، ايران، هند، د يورو حوزه، روسيه، عرب متحده امارات، ترکيه او چين. د امريکايي ډالرو وزن د پاتې ټولو سوداګريزو ونډو وزن ده. اساس ربع: د ٢٠١٥ کال دويمه ربع.

سرچينه: د مرکزي احصائيې اداره، مرکزي بانک، د نړيوال پرمختګ شاخصونه، د پيسو د نړيوال صندوق اټکلونه او د نړيوال بانک د کارکوونکو وړاندې وينې

## د ۲ ضمیمي جدول: منتخب مالي شاخصونه

| | ۱۳۹۳ | ۱۳۹٤ | ۱۳۹٥ | ۱۳۹٦ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| *د میلیارد افغانۍ له مخې، مګر دا چې په بل ډول سره بیان شوي وي.* | | | | لومړني اټکلونه | | وړاند وینې | |
| کورني عواید | ۱۰۰,۱ | ۱۲۲,٤ | ۱٤۱,۲ | ۱٥۷,۷ | ۱۷٦,۳ | ۱۹۹,٦ | ۲۲٥,۹ |
| مالیاتي عواید | ٥۱,۸ | ٥۹,٥ | ٦۹,٥ | ۷۳,۹ | ۷۷,۷ | ۸٤,۳ | ۹۹,٦ |
| ګمرکي عواید | ۲٦,۰ | ۳۰,٤ | ۳۱,۳ | ۳۷,۹ | ٤۱,٥ | ٤٦,٥ | ٥۲,۱ |
| غیرمالیاتي عواید | ۲۲,۳ | ۳۲,٤ | ٤۰,٤ | ٤٥,۹ | ٥۷,۱ | ٦۸,۸ | ۷٤,۲ |
| مالي بلاعوضه مرستي | ۱۸۰,۷ | ۱۸۱,۱ | ۲۰۹,۲ | ۲٤٦,۷ | ۲۷۷,۳ | ۳۰۰,۳ | ۳۲۹,٤ |
| اختیاري مرستي | ۱۱۹,۱ | ۱۲۳,۷ | ۱٤۸,٥ | ۱٦۰,۹ | ۱۸۱,۱ | ۱۹۷,۹ | ۲۱٦,٥ |
| غیراختیاري مرستي | ٦۱,٦ | ٥۷,٤ | ٦۰,۱ | ۸٥,۸ | ۹٦,۲ | ۱۰۲,٤ | ۱۱۲,۹ |
| ټولټال لګښت | ۳۰۱,۰ | ۳۱۸,۸ | ۳٤۱,۹ | ۳۹۸,٥ | ٤٥٥,۸ | ٥۰٦,۸ | ٥٦٥,٦ |
| عادي لګښتونه | ۲۲۸,۳ | ۲۳٥,۹ | ۲٤۸,۰ | ۲۷۹,۷ | ۳۱٦,٤ | ۳٥٤,۱ | ۳۹٦,۲ |
| امنیتي | ۱۳۷,٤ | ۱٤۳,٦ | ۱٤٥,٥ | ۱٦٤,۲ | ۱۸٤,۳ | ۲۰۸,۳ | ۲۳٥,۳ |
| ملکي | ۹۱,۰ | ۹۲,۳ | ۱۰۲,٥ | ۱۱٥,٥ | ۱۳۲,۱ | ۱٤٥,۸ | ۱٦۰,۹ |
| تنخواوې او مزد | ٥۲,۷ | ٥٤,٥ | ٥۸,٦ | ٦٦,۰ | ۷۳,۷ | ۷۹,۸ | ۸٦,٦ |
| عملیات او ساتنه او پالنه | ۱٦,۳ | ۱۷,۳ | ۱۸,٦ | ۲۰,٥ | ۲٤,۰ | ۲۷,۸ | ۳۰,۱ |
| پانګه ایزي لګښتونه | ۱,۹ | ۲,۳ | ۲,۳ | ۲,۹ | ٤,۸ | ٥,۲ | ۷,٥ |
| د ټولنیزو حقونو انتقالات | ۱۹,۲ | ۱۷,۰ | ۲۲,۲ | ۲٤,۹ | ۲۸,۰ | ۳۱,۲ | ۳٤,۸ |
| د ګټي ورکړه (پرداختونه) | ۰,۹ | ۱,۲ | ۰,۸ | ۱,۲ | ۱,٤ | ۱,۷ | ۱,۹ |
| اختیاري پرمختیایي لګښتونه | ۹,۹ | ۱۸,۰ | ۲۹,۰ | ۳۳,۷ | ٤۰,۱ | ٤۳,٤ | ٤۷,۱ |
| غیراختیاري پرمختیایي لګښتونه | ٦۲,۸ | ٦٤,۹ | ٦٤,۹ | ۸٥,۰ | ۹۹,٤ | ۱۰۹,۳ | ۱۲۲,٤ |
| اختیاري بیلانس (عادي + اختیاري پرمختیایي) | -۱۹,۰ | -۷,۸ | ۱۲,۷ | ٥,۱ | ۱,۰ | ۰,۰ | -۰,۹ |
| عمومي بیلانس | -۲۰,۲ | -۱٥,۳ | ۸,٥ | ٥,۹ | -۲,۲ | -٦,۹ | -۱۰,٤ |
| پرته له مالي مرستو عمومي بیلانس | -۲۰۰,۹ | -۱۹٦,٤ | -۲۰۰,۷ | -۲٤۰,۸ | -۲۷۹,٥ | -۳۰۷,۲ | -۳۳۹,۸ |
| عادي لګښتونو ته د عوایدو نسبت | ٤۳,۸ | ٥۱,۹ | ٥٦,۹ | ٥٦,٤ | ٥٥,۷ | ٥٦,٤ | ٥۷,۰ |

سرچینې: د مالیې وزارت (AFMIS) او د نړیوال بانک د کارکوونکو وړاندوینې
کلونه د افغانستان د مالي کلونو له مخې – یعني له مرغومې څخه تر لیندۍ پورې (د زیږدیز کالیزې له مخې)- مطابقت لري.

## د ۳ ضمیمې جدول: منتخب مالي شاخصونه

| د ناخالصه کورني تولید د سلنې له مخې، مګر که چیرته په بل ډول سره بیان شوی وي | ۱۳۹۳ | ۱۳۹٤ | ۱۳۹٥ | ۱۳۹٦ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | لومړني اټکلونه | | وړاند وینې | |
| *د ناخالصه کورني تولید د سلنې له مخې، مګر که چیرته په بل ډول سره بیان شوی وي* | | | | | | | |
| کورني عواید | ۸,۷ | ۱۰,۱ | ۱۰,٥ | ۱۰,۸ | ۱۱,۰ | ۱۱,٥ | ۱۲,۰ |
| مالیاتي عواید | ٤,٥ | ٤,۹ | ٥,۲ | ٥,۰ | ٤,۸ | ٤,۹ | ٥,۳ |
| ګمرکي عواید | ۲,۳ | ۲,٥ | ۲,۳ | ۲,٦ | ۲,٦ | ۲,۷ | ۲,۸ |
| غیرمالیاتي عواید | ۱,۹ | ۲,۷ | ۳,۰ | ۳,۱ | ۳,٦ | ٤,۰ | ۳,۹ |
| بلاعوضه مالي مرستې | ۱٥,۷ | ۱٥,۰ | ۱٥,٦ | ۱٦,۸ | ۱۷,۳ | ۱۷,۳ | ۱۷,٥ |
| اختیاري مرستې | ۱۰,۳ | ۱۰,۲ | ۱۱,۱ | ۱۱,۰ | ۱۱,۳ | ۱۱,٤ | ۱۱.٥ |
| غیراختیاري مرستې | ٥,٤ | ٤,۷ | ٤,٥ | ٥,۹ | ٦,۰ | ٥,۹ | ٦,۰ |
| ټولټال لګښتونه | ۲٦,۲ | ۲٦,٤ | ۲٥,٦ | ۲۷,۲ | ۲۸,٤ | ۲۹,۲ | ۳۰,۱ |
| عادي لګښتونه | ۱۹,۸ | ۱۹,٥ | ۱۸,٥ | ۱۹,۱ | ۱۹,۷ | ۲۰,٤ | ۲۱,۱ |
| امنیتي | ۱۱,۹ | ۱۱,۹ | ۱۰,۹ | ۱۱,۲ | ۱۱,٥ | ۱۲,۰ | ۱۲,٥ |
| ملکي | ۷,۹ | ۷,٦ | ۷,۷ | ۷,۹ | ۸,۲ | ۸,٤ | ۸,٦ |
| تنخواوې او مزد | ٤,٦ | ٤,٥ | ٤,٤ | ٤.٥ | ٤,٦ | ٤,٦ | ٤,٦ |
| عملیات او ساتنه او پالنه | ۱,٤ | ۱,٤ | ۱,٤ | ۱,٤ | ۱,٥ | ۱,٦ | ۱,٦ |
| پانګه ایز لګښتونه | ۰,۲ | ۰,۲ | ۰,۲ | ۰,۲ | ۰,۳ | ۰,۳ | ۰,٤ |
| د ټولنیزو حقونو انتقالات | ۱,۷ | ۱,٤ | ۱,۷ | ۱,۷ | ۱,۸ | ۱,۸ | ۱,۹ |
| د سود یا ګټې ورکړې | ۰,۱ | ۰,۱ | ۰,۱ | ۰,۱ | ۰,۱ | ۰,۱ | ۰,۱ |
| اختیاري پرمختیایي لګښتونه | ۰,۹ | ۱,٥ | ۲,۲ | ۲,۳ | ۲,٥ | ۲,٥ | ۲,٥ |
| غیراختیاري پرمختیایي لګښتونه | ٥,٥ | ٥,٤ | ٤,۸ | ٥,۸ | ٦,۲ | ٦,۳ | ٦,٥ |
| اختیاري بېلانس (عادي + اختیاري پرمختیایي) | -۱,۷ | -۰,٦ | ۰,۹ | ۰,٤ | ۰,۱ | ۰,۰ | ۰,۰ |
| عمومي بېلانس | -۱,۸ | -۱,۳ | ۰,٦ | ۰,٤ | -۰,۱ | -۰,٤ | -۰,٥ |
| له مالي مرستو پرته عمومي بېلانس | -۱۷,٥ | -۱٦,۲ | -۱٥,۰ | -۱٦,٤ | -۱۷,٤ | -۱۷,۷ | -۱۸,۱ |
| عادي لګښتونو ته د عوایدو نسبت | ٥٥,۳ | ٤۳,۸ | ٥۱,۹ | ٥۲,۳ | ٥٤,٦ | ٥٥,۷ | ٥۷,۰ |

**سرچینې: د مالیې وزارت (AFMIS) او د نړیوال بانک د کارکوونکو وړاندې وینې**
**کلونه د افغانستان د مالي کلونو له مخې – یعني له مرغومي څخه تر لیندۍ پورې (د زیږدیز کلیزې له مخې)- مطابقت لري.**

## د ٤ ضمیمي جدول: مالي منتخب شاخصونه

| *د ناخالصه کورني تولید د فیصدي له مخې، مګر دا چې په بل ډول سره بیان شوي وي* | ١٣٩٣ | ١٣٩٤ | ١٣٩٥ | ١٣٩٦ | ١٣٩٧ | ١٣٩٨ | ١٣٩٩ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | لومړني اټکلونه | | وړاندې وینې | |
| کورني عواید | ١,٧ | ٢,٠ | ٢,١ | ٢,٣ | ٢,٥ | ٢,٨ | ٣,١ |
| مالیاتي عواید | ٠,٩ | ١,٠ | ١,٠ | ١.١ | ١,١ | ١,٢ | ١,٤ |
| ګمرکي عواید | ٠,٥ | ٠,٥ | ٠,٥ | ٠,٥ | ٠,٦ | ٠,٦ | ٠,٧ |
| غیرمالیاتي عواید | ٠,٤ | ٠,٥ | ٠,٦ | ٠,٧ | ٠,٨ | ١,٠ | ١,٠ |
| مالي بلاعوضه مرستې | ٣,١ | ٢,٩ | ٣,١ | ٣,٦ | ٣,٩ | ٤,٢ | ٤,٥ |
| اختیاري مرستې | ٢,١ | ٢,٠ | ٢,٢ | ٢,٣ | ٢,٦ | ٢,٧ | ٢,٩ |
| غیراختیاري مرستې | ١,١ | ٠,٩ | ٠,٩ | ١,٢ | ١,٤ | ١,٤ | ١,٥ |
| ټولټال مخارج | ٥,٢ | ٥,٢ | ٥,٠ | ٥,٨ | ٦,٥ | ٧,٠ | ٧,٧ |
| عادي لګښتونه | ٤,٠ | ٣,٨ | ٣,٧ | ٤,٠ | ٤,٥ | ٤,٩ | ٥,٤ |
| امنیتي | ٢,٤ | ٢,٣ | ٢,١ | ٢,٤ | ٢,٦ | ٢,٩ | ٣,٢ |
| ملکي | ١,٦ | ١,٥ | ١,٥ | ١,٧ | ١,٩ | ٢,٠ | ٢,٢ |
| تنخواوې او مزد | ٠,٩ | ٠,٩ | ٠,٩ | ١,٠ | ١,٠ | ١,١ | ١,٢ |
| عملیات او ساتنه او پالنه | ٠,٣ | ٠,٣ | ٠,٣ | ٠,٣ | ٠,٣ | ٠,٤ | ٠,٤ |
| پانګه ایزې لګښتونه | ٠.٠ | ٠,٠ | ٠,٠ | ٠,٠ | ٠,١ | ٠,١ | ٠,١ |
| د ټولنیزو حقونو انتقالات | ٠,٣ | ٠,٣ | ٠,٣ | ٠,٤ | ٠,٤ | ٠,٤ | ٠,٥ |
| د ګټې ورکړه (پرداختونه) | ٠,٠ | ٠,٠ | ٠,٠ | ٠,٠ | ٠,٠ | ٠,٠ | ٠,٠ |
| اختیاري پرمختیایي لګښتونه | ٠,٢ | ٠,٣ | ٠,٤ | ٠,٥ | ٠,٦ | ٠,٦ | ٠,٦ |
| غیراختیاري پرمختیایي لګښتونه | ١,١ | ١,١ | ١,٠ | ١,٢ | ١,٤ | ١,٥ | ١,٧ |
| اختیاري بیلانس (عادي + اختیاري پرمختیایي) | -٠,٣ | -٠,١ | ٠,٢ | ٠,١ | ٠,٠ | ٠,٠ | ٠,٠ |
| عمومي بیلانس | -٠,٤ | -٠,٢ | ٠,١ | ٠,١ | ٠,٠ | -٠,١ | -٠,١ |
| پرته له مالي مرستو عمومي بیلانس | -٣,٥ | -٣,٢ | -٣,٠ | -٣,٥ | -٤,٠ | -٤,٣ | -٤,٦ |
| عادي لګښتونو ته د عوایدو نسبت | ٥٥,٣ | ٤٣,٨ | ٥١,٩ | ٥٢,٣ | ٥٤,٦ | ٥٥,٧ | ٥٧,٠ |

**سرچینې: د مالیې وزارت (AFMIS) او د نړیوال بانک د کارکوونکو وړاندوینې**
**کلونه د افغانستان د مالي کلونو له مخې – یعنې له مرغومې څخه تر لیندۍ پورې (د زیږدیز کلیزې له مخې)- مطابقت لري.**